د ښاپېرۍ ورغوی

د شعرونو درېیمه مجموعه

پیر محمد کاروان

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب پېژندنه:

د کتاب نوم	د ښاپېرۍ ورغوی
ویناوال	پیر محمد کاروان
خپرندوی	دانش خپرندویه ټولنه
د خپرېدو نېټه	تله ۱۳۹۷ هجري لمریز کال
د چاپ شمیر	۱۰۰۰ ټوکه
د پشتۍ انځور	استاد محمد خسن پاوند
د عنوان لیک	استاد قمرالدین چشتي
کمپوز او ډیزاین	محمد ابراهیم امیري

یادونه

له ډېر ګران ورور محمد ابراهیم امیري نه یوه دنیا مننه چې د ښاپېرۍ ورغوي ته یې کتابي بڼه ورکړه.

د انټرنېټ په مخ اوډ نګی : سمسور حبیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپيرۍ زما همزولې

نه پوهېږم چې څومره شاعر يم او څومره نه. زه چې اوس د خپل تير ژوند په خاص ډول د ماشومتوب شېبې را يادوم ، نو خپل ځان له اوس نه زيات په ماشومتوب کې راته ښه شاعر وبريښي. همدا اوس هم د اوسنيو شېبو ، تراژيديو ، خوښيو او ښکلاوو د ښې انځورونې لپاره د خپل تير ژوند په تيره بيا د ماشومتوب رنګينې شېبې په پور را اخلم او د خپل شعر د کورګي سندريز ديوالونه ترې جوړوم. په ماشومتوب کې چې د تورو او کلماتو خاپيرۍ مې په حکم کې نه وې ، نو د ماشوم شاعرانه کيفيت خو مې په حکم کې و. د ښا پيريانو کيسې مې دومره رېښتيا ګڼلې چې د شپې به مې په خوبونو ليدې. په خپل ماشوم ذهن او خيال کې به مې يوه ښاپيرۍ جوړوله او ما به وې چې د اوسپنې څپلې به ورپسې زړوم. په ځنګل کې يو ناست ملنګ به اسم اعظم را ښيې ، دعا به راته کوې او بيا به د ښاپيريو جامې په لاس راځې.

په ماشومتوب کې له فطرت او تخيل سره له تصنع او عقل نه پاکه مينه کيږې او همدا مينه د سړي راتلونکې هم جوړوي.
کورنی چاپيريال هم د ماشوم په راتلونکي اغيز لري. که څه هم نه مې پلار شاعر و او نه مې مور شاعره وه ، خو بيا هم مور او پلار مې ماته ډير شاعرانه کيښتونه را ښنلي دي.
زما د مور د ماشومتوب او ځوانۍ ټول ژوند په غمونو او تراژيديو کې تير وشی دی. تراژيدي مې له مور نه په ميراث وړې ده او تر ننه د تراژيدي هنر سره مينه لرم. تراژيدي موسيقې مې خوښيږي، تراژيدي فلمونه ، افسانې ناولونه او شعرونه مې خوښيږي. زما د مور څلور ورونه يو په بل پسې مړ شوي وو. کله چې زه لږ غټې شوم ، نو مور به مې د نورو افسانو تر څنګه د خپلو ورونو د مړګونو کيسې راته کولې. له کيسې وروسته به مې مور وژړل ، ما به مې مور ښکلوله او زارۍ به مې ورته کولې چې بس دی ، مورې مه ژاړه. کله کله به مور د خپلوورونو په ياد يوه نيمه لنډۍ په غلي اواز ويله. د مور اواز به پر ما خوږ لګيده او ما ته به يې ژړا راوسته. ما مخکې وويل چې زه په ماشومتوب کې په تورو او کلماتو لاسبری نه وم ، کنه کنه ډير کيفتونه به مې د تورو او او کلماتو په زور شاعرانه کړې وای. يوه خاطره درته ليکم چې شعر ته ډيره ورته ده:
_مور مې ددويم پوړ په کوټه کې را ته ټال جوړ کړی و ، زه به په ټال کې زنګيدم. د دويم پوړ د کوټې له کړکۍ نه به مې مخامخ غرونو ته کتل. مخامخ غرونه به هم زنګيدل . زه نه پوهيدم چې دا غورنه څنګه زانګي ؟
کله به چې زه له ټال نه را کوز شوم. دوی به هم ځای پر ځای و دريدل. يوه ورځ نری نری باران وريدلی و. زه په ټل کې زنګيدم. نا څاپا مې مخامخ غرونو ته پام شو. د غرونو پر لمن د بوډۍ ټال (شنه زرغونه) غوړيدلی و. غرونه زنګيدل. ما له ځانه سره وويل چې دا به د غرورنو ټال وي او غرونه به په دې ټال کې زانګي. پر غرونو را خوره شنه زرغونه مې د غرونو ټال باله .
په همدې ډول له عجيبو شاعرانه کيفتونو سرا را لويدم. پلار مې ډير ديندراه او امانتداره سړی دی. ډير وخت به په نيمه شپه کې د تهجد لمانځه ته پاڅيده. کله کله به يې زه هم له ځان سره پاڅولم. د نيمې شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چوپتیا او د ستورو ځلا به را باندې ډېره ښه لګیده . کله کله به یې په اسمان کې هغه نژدې شوي ستوري را وښودل . یو ستوری به غټ تک سپین و . پلار به مې ویل چې دا لیلا ده. بل ستوری به د سپین غټ ستوري نه لږ وړوکی او سوربخون رنګ یې و . پلار به مې ویل چې دا مجنون دی. دوی دواړه یو پر بل مین وو او دواړه د خدای په قدرتونو اسمان ته ختلي دي . دوي په کال کې یو ځل سره غیږې ورکوي او که چا غیږ په غیږ یو ځای سره ولیدل. چې هر سوال یې له خدای پاک نه وکړ ، سوال یې قبلوي. ما به هم په زړه کې ویل چې ښه که غیږ په غیږ یې ووینم. نو کوم سوال به له خدایه کوم ؟ سوال به مې نه خوښیده. په دې سوچونو کې به خوب وړی وم.پلار به مې د شاتو له مچیو سره ډېره مینه لرله. کله به چې ژمی تیر شو. زموږ کډې به د غرونو باندو ته تلې . زموږ غرونه د ځیړیو په ګڼو ځنګلونو پټ دي. ځیني د نښترو ځنګلونه هم لري. پلار به مې د ځنګل په لمن کې د اوبو پر غاړه د شاتو مچۍ ځارلې. د اوبو غاړې ته به یوه یوه مچۍ راتله او به به یې په خوله کې اخیستې او د ځیړیو په ځنګل به ور ننوته . پلار به مې هغه ځای معلوم کړ. بیا به د ځیړیو په ځنګل کې پسې ګرځیدو. کله نا کله به مو ځیړیو په یوه لویه ونه کې د شاتو د مچیو کور پیدا کړ . مچۍ به د لمر د وړانګو په غیږ کې لکه ګرځندې سپرغۍ د لویې ونې سوري ته ننوتې او ځیني به ترې راوتې. دا انځور اوس هم زما په ذهن کې ژوندی دی او اوس هم دا ښکلا په لفظونو کې نه شم نغښتلای. پلار به مې د ځیړۍ لویه ونه د شاتو پسې سوری کړه . تختې تختې شات به پکې وو . د شاتو د مچیو په ټوپکي کې به یې ګوتې وهلې یوې نیمې به پر ګوتو او لاسونو و چیچه ، خو د پلار به مې هیڅ چرت هم نه خرابیده. کله به یې چې پر مخ او یا د سترګو سره نژدې وچیچه. نو ماته به یې ویل چې دا لشې یې را وباسه. ما به لشې ترې را وویستې. کله به چې زه د شاتو مچیو وچیچلم ، نو ما به ژړل. پلار به مې راته ویل چې ستنه یې درته ولګوله. دا د هر مرض دارو دي.پلار به مې د مچیو په مینځ کې یوه اوږده زرینه مچۍ پیدا کړه ماته به یې راکړه ویل به یې چې ورو ورو یې په ګوتو کې ونیسه دا ملېکه ده او چیچل نه کوي. ما به ملېکه ورو په ګوتو کې ونیوه . څومره پسته وه . زړه به مې یو ډول پرې خوږ شو. پلار به مې د واسکټ له جیبه کوچنۍ بیاتي را واخیسته او د ملېکې وزرونه به یې یرې کړل. بیا به یې د شاتو کندو ته واچوله. د شاتو د کندو سر به یې خلاص پرېښود . مچیو به د شاتو د کندو پر سر ګرځنی کول او ډلې ډلې به د کندو ګیډې ته ورننوتې. په یوه شیبه کې ټولې مچۍ د شاتو کندو ته ننوتې. د شاتو د کندو سر به یې وتاړه. د مچۍ له کور نه به یې د شاتو تختې را پرې کړي. ماته به یې یوه کوچنۍ تخته شات را کړل. چې دوه دري ټوټې به مې وخوړل . موړ به یې کړم. یوه شیبه وروسته به شاتو تږی کړم. د ځنګل په لمنه کې به پر یخه چینه څملاستم او یخې اوبه به مې وچښلې. پلار به مې له شاتو دیګۍ ډک کړ او له ځنګله به رووان شوو. پر لاره به خوشحاله خوشحاله را تلو . زما مخ به د شاتو د مچیو له لشو نه پړسیدلی و ، سترکې به مې تنګې شوې وې. پلار به مې مخ ته هنداره راته ونیوه . ما به د ځان پورې خندل. د هر څه په باره کې به مې له پلاره پوښتنې کولې. له پلاره به مې پوښتنه وکړه چې د شاتو مچۍ شات څنګه جوړوي ؟ پلار به مې راته وویل : مچۍ ګلان په څانګو کې راوړي. د ننه په صندوق یا کندو کې یې پاڼې پاڼې ږدي. د ګلونو د پاڼو د پاسه ملکه ورو ورو ګرځي. له کومو ګلپاڼو نه چې ملکه تیریږي ، هغه ګلپاڼې په شاتو بدلیږي.
زموږ د کور په هره کوټه کې دوه یا درې د شاتو صندوقونه چې موږ یې ټمبکي بولو وو. زموږ کورته به له سهاره تر مازدیګره مچیو په وزرونو کې رنګا رنګ ګلان راوړل. ګلپاڼې په څانګونو کې مچۍ ډیرې ښکلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکاري. زه د دويم پوړ په کوټه کې ويده کيدم.، او زما کټ د شاتو د مچيو له ټمبکي سره جوخت ايښی و. د شپې به مې له کړکۍ نه د ستورو ډک اسمان کوت. د ليلا او مجنون ستوري به مې کتل چې څومره سره نژدې شوي دي ؟ بيا به مې د شاتو د مچيو زمزمو ته غوږ کيښود.

کله کله به مې د ټمبکي تخته ورو په څپيړه ووهله. د شاتو دمچيو زوږ او زمزمې به لا پسې ډيرې شوې . ما به زړه کې ويل چې اوس به په ډيرو ګلپاڼو له پاسه ملښکه تيره شوې وي او اوس به ډيرې ګلپاڼې په شاتو اوښتې وې. په زړه کې به مې را وګرځيدل ، کاشکي زه د شاتو ملښکه وای چې ګلپاڼې مې په شاتو بدلولای.

پلار مې د شاتو د مچيو په باره کې دا هم راته ويلي وو چې دوی ډيرې اصيلي دي. په کوم کور کې چې بې دينې او بې اتفاقي راشي اويا ظالم پاچا پر وطن واکمن شي ، نو دوی له هغه کوره ځنګل ته ځي. د شاتو مچيو د ښکلي پيغمبر(ص) د ژړا تاب نه درلود . د پيغمبر (ص) اوښکې يې وڅيښلې او لوی خدای(ج) د شاتو جوړول پرې ولورول. پلار مې ويلي وو چې د شاتو د مچيو د ساتلو لپاره بايد په زړونو کې پاکي او تقدس وساتو . دا خبرې مې له پلاره اوريدې او زما په ياد کې پاتې کيدې ؟ زما د ژوند شپې لکه ګلپاڼې په غيږ کې مچۍ تيريدې. او اوس نو زه زلموټی شوی وم او ورو ورو د بلوغ درشل ته ور نږدې کيدم. اواز مې لږ ډډ شوی و . خو لا تر اوسه مې هم هغه ډول خوبونه نه وو ليدلي چې د بلوغ په باب مې په منيه المصلی کې لوستي وو. يوه ورځ مې پلار د مچيو د ټمبکې (کندو) تخته خلاصه کړه. د شاتو د سپينو تختو د پاسه تورې مچۍ ګرځيدې. په يوه لويه سپينه تخته کې دوې غوټې وې . پلار مې ويل په دې هره غوټه کې يوه نوې ملښکه اوسيږي. که چيرې دا غوټې داسې پاتې شي په دې کور کې به دوې نورې ملښکې هم پيدا شي او بيا به د دې کندو نظام خراب کړي . نوې را پيدا شوې ملښکې به يو يو ټولی مچۍ له ځانه سره وباسي او دا کندو به کمزوری شي. پلار مې چاره را واخيسته. په داسې احتياط يې غوټې غوڅې کړې چې په غوټه کې د ملښکې چينجی زخمي نه شي. پلار مې د کندو له تختې نه را تويه شوې خاوره لمده کړه . لمدې خاورې خوږ بوی وکړ . پر ما د شاتو بوی او د لمدې ختې بوی ډير خوږ لګيده. پلار مې د کندو پسې تخته بنده کړه. د تختې پر درزونو يې لمده خاوره وموښله.

يوه اونۍ وروسته د همدې ټمبکې له سوري ګڼې ګڼې مچۍ راوځي او په هوا کې ګرځني کوي. له ټمبکې نه يو لوی ټولی مچۍ راووتې. مچۍ په هوا کې تاويدې. غوښتل يې چې دهغه لرې ځنګله په لوري لاړې شي خو پلار مې د هغوی مخه ونيوه. دوړو شګو ګوزارونه يې پرې وکړل.

مچۍ يې زمونږ له کور سره نژدې د توت ونې ته وګرځولې. مچيو د توت په يوې هسکې څانګې پورې ټوپکی جوړ کړ. يوه مچۍ د بلې مچې پورې نښتې وه. د لمر شغلې پرې لګيدلې او دوی وزرې رپولې. ډيرې ښکلې بريښيدلې. کله به باد ټوپکی و ښوراوه. ما وی چې اوس به د ماشومانو د شګو د کوټنۍ غوندې د مچيو دا کور هم ړنګ شي. خو نه پوهيږم چې ولې نه ړنګيده. پلار مې له وچ او تش کدو نه جوړ شوی د مچيو د را ايساريدلو لوښی د ځان سره توت ته وخيژاوه. زه هم توت ته پاس ور وختم. پلار مې د ډيرو مچيو په منځ کې ملښکه لټوله. تر لږې شيبې لټون وروسته يې د شاتو ملښکه پيدا کړه. ورو ورو په ګوتو کې ونيوه. ما ته يې وويل چې له جيبه مې بياتې دروباسه. ما يې له جيبه بياتې راوايسته او د ملښکې وزرونه مې پرې کړل. پلار مې ملښکه له کدو نه جوړ شوي تش لوښي ته واچوله . بيا يې ورو ورو په لپو لپو مچۍ تش کدو ته پسې ور

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچولې. د مچیو ډک لوښی یې له ځان سره را کوز کړ. د نوې ملبکې دا لوی ټولی مچۍ یې په یوه بله تشه تومبکه کې سمبال کړې. ځو تختې شات یې هم ورته کیښودل. چې ځو دوې خپل شات جوړوي. په دې شاتو به ځو شپې ور تیرې کړې. ما مې له پلاره پوښتنه وکړه چې تا خو ځو ورځې وړاندې په هغه ټومبکه کې د ملبکې دوې غوټې غوځې کړې، نو دا درییمه ملبکه له کومه را پیدا شوه ؟ پلار مې په خندا کې راته وویل چې: دا ملبکه ما پریښې وه. ځکه چې هغه ټمبکه ډیره زوروه وه ما وې چې بله ټمکه هم ترې جوړیدای شي. په دې لا دوې ورځې پوره نه وې تیرې. هماغې اولنۍ ټومبکې بیا شورش وکړ. یو کوچنی ټولی مچۍ ترې را بیلې شوې او نژدې دیوال پورې پنډې شوې. پلار مې ملبکه پکې ونیوه. دا ځل یې وزر پرې لنډ نه کړل. ماته یې راکړه او راته یې وویل چې په ورغوي کې یې ورو، ونیسه چې درنه مړه نه شي. ځکه چې د ملبکې مرګ د یوې پاچاهۍ مرګ دی. ما ملبکه په ورغوي کې ورو ونیوه. زما په ورغوي کې یې ورو وزرونه رپول. د وزر د رپولو سره یې ان زما زړه تخناوه. پلار مې راته وویل چې دا ملبکه یوسه او د غنمو په شنه کرونده کې یې خوشې کړه. زما په زړه کې یوې پوښتنې غځونې کولې. پلار مې نور څه هم راته ویل. خو ما نورو ویلو ته پرې نه ښود او ترې ومې پوښتل: پلاره تا هغه ځل ویل چې هغه بله ملبکه ما پرېښې وه چې نوی کور جوړ کړې. نو دا ملبکه ولې نوي کور جوړولو ته نه پرېږدې ؟ پلار مې مسکی شو. ویې ویل چې ته ځومره ډیرې پوښتنې کوې. بیا یې په ځواب کې راته وویل: ځکه چې یو خو دې ملبکې ډیر کم شمیر مچۍ له ځانه سره ملګري کړې دي. یعنې یو پاچا باید ډیر رعیت ولري. او ددې ملبکې رعیت ډیر کم دی. بله دا چې هغه پخوانۍ ټمکه کمزورې کیږې. ددې ملبکې غوټه ما نه وه لیدلې. کله کله د ملبکې غوټه په پټ ځای کې وي. له سړي نه پاتې شي. زما د پوښتنې ځواب وشو. اوس نو زه په خوشحالی له کوره را ووتم. ماته ځان ډیر غټ برېښیده. ځکه له ما سره د مچیو پاچا ملګری شوی و. زه د غنمو تکې شنې کروندې ته ورسیدم. په یبلو پښو په تکه شنه کرونده ور ګډ شوم. شنه او تنکي غنم زما په چاودو او یبلو پښو زخمي شول او خوږ بوی یې په هوا کې خپور شو. دا بوی هم د شاتو او لمدو خاورو په څیر پر ما خوږ ولګید. ورو ورو مې ورغوی پرانیست. اوږده زرینه او وریښمینه ملبکه مې په ورغوي ګرځیده. ورزونه یې هم جوړ وو. خو خدای زده چې ولې نه الوته. زما ډیر زړه پرې وخوږیده. ورغوي ته مې ورو پوکی ورو کړ او په پوکي سره مې د شنو غنمو غیږې ته والوزوله. کور ته په خوشحالۍ راستون شوم. بیا مې له پلاره پوښتنه وکړه چې ولې دې ملبکه له کوره شنې کروندې ته را باندې یوړه ؟ پلار مې بیا په مسکا کې راته وویل: ځکه چې له کوره او نورو ټمبکو لرې وې. که دلته نژدې مو ازاده کړې وای، بیا به کومې ټمبکې ته ننوتلې وای او یوه جوړه پاچهي به یې خرابه کړې وای. بله دا چې د ملبکې مرګ لویه ګناه ده. بس د پاچا مرګ دی. ما وې چې ملبکه ډیره تنکۍ وې په شنو او تنکیو غنمو کې به بل سپیره ځای نه خوشحاله وي او تر ټولو لویه ارزو مې دا وه چې ګوندې د مچیو یو داسې لښکر پرې راشي چې ملبکه یې مړه وي او یا یې ملبکه نه وې، نو دا به یې ملبکه شي او ورانه پاچهي به پرې جوړه شي.

زه اوس هم داسې انګیرم، چې زما د شعرونو او سندرو لفظونه هغه مچۍ دي چې د ښایست او شعر په شنه کرونده کې یې زرینه ملبکه ورکه کړې ده. زه تل ددې زرینې ملبکې په لټون کې لالهانده ګرځم زما همزولې ښاپیرۍ راته ویلي دې چې دا ملبکه ما لیدلې ده ما هم د خپل خیال او خپل شعر د ښاپیرۍ لمن نیولې ده. د خیال او ښکلا په ډیرو جزیرو یې وګرځولم، خو لا مې موندلې نه ده. تر هرې پلټنې وروسته ښاپیری کټ کټ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخاندي او د يو نوي پړاو د پلټنې بلنه راکوي. کله کله مې شک پيدا شې چې هسې نه ملېکه زما د همزولې ښاپيرۍ په ورغوي کې وي . که خدای کول سبا به د ښاپيرۍ ورغوی پرانزم. ګوندې زرينه ملېکه په لاس راشي او د سندرو يوه کوچنوټې پاچهي راته جوړه کړې.

په مينه

کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

شاعر ته لیک د ځنګل

سلام سلام ګرانه کاروانه سلام

وایه چې هېر دې یم کنه ملګریه؟!

زما د سویولو غږنو شیبو

ستړیه ستومانه اوښبنه ملګریه!

*   *   *

ظالمه نه رادرومې مرم درپسې

د سور کې اوښ د ګونګرو شرنګ دې اورم

ها چې اهد ءدې ؤشپونګې شهید ته

هاغه غزل په وینو رنګ دې اورم

*   *   *

نن سبا مستې ترانې نه لیکې

منمه ستا د قلم نوکه ما ته

ستا د شاعر زړګي په شنه ستورې کې

د سپین هلال د تورې څوک ما ته

*   *   *

چې ستا د چاو دو پښو په وینو سره وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن مې شمال هغه سرګړي ښکل کړل

ستا د شرابو شیشې تشې مه شه

راشه سو ما مې درته واړه ګل کړل

* * *

راځي د شاتو ګلوزرې مچۍ

دانه دانه دي غزلتوري ګرځي

ستا د مسرو پنجرې یې خچې پچې

د غره مارغان شي په هر اوري ګرځي

* * *

درته کافرې تذانې لرمه

راشه یو ځویې مسلمانې خوکړه

خیر دی یو ځو به ملکې شي درته

ځینې یې وینځې غلامانې خو کړه

* * *

منمه نن سبا تش لاسی یې ډیر

له خیالي لاس دې د شعر کب ښوییږي

لا دې په زړه کې تنده نه ده راشنه

چې دې له شونډو جام درب ښوییږي

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرپه ځنګون چې کړم په خوب دې وینم

دناصر باغ په هدیره کې ګرځې

لکه غاټول غوندې راټول غوندې یې

دزړه دداغ په هدیره کې ګرځې

* * *

زه هم خبر شوم ځورولی یې چا

کره کتونکو درته کم کتلي

د شاعر زړه ګلاب دې مړاوې مه شه

ما دې د سرواوښکو شبنم کتلي

* * *

ستر ګې دې ډ کې دي دزړه له رنګه

خبرې نه کوې سندرې ګورې

دشعر کوترې په پنجونه درځي

لکه سپین باز لوړې ژورې ګورې

* * *

راشه پخلا شه مروره آشنا

چوپو بلبلو ته سندرې راوړه

دپرښو پرښو پنجرې ما توه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندي طوطيانو ته شکرې راوړه

* * *

راشه د شپې راشه شاعر به دې کړم

که د سپوږمۍ په جام کې شومې شيبې

د قمري غوږ کې کوکو کووايه

چې را په يادې شي ما شومې شيبې

* * *

لکه د خدای د شنه کتاب په شانې

د سپينو وړانګو په چترۍ کې راکوز

په خدای که شين ځنګل مې وګنې اوس

سره له ستورويم سپوږمۍ کې راکوز

* * *

د شنو چندڼو په خوشبو کې لامبم

شپه ده په شان د شان د شنه ښامار پروت يم

نه نه پر سرمې ده سپوږمۍ ولاړه

چا پير د سپينو ستوروهار پروت يم

* * *

پر سر د هغې تپې ستورې ولاړ

چې ستا د سره اوبن کپرۍ ښخه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر مخ يې لاس د ښښترو وا همه

چې هسې نه پکې سپوږمۍ ښخه ده

*   *   *

سهار مې لمر لکه زرينه بيړۍ

زما د شنې غيږې په سين کې ګرځي

داد شهيد شاعر خوشحاله اروا

په ايا تونو د ياسين کې ګرځي

*   *   *

شډل بازان لکه ستېنګر توغندي

وزرې شخې غاړې لکې نيسي

د برګ وزروغرنو کوترو

پټتې مهينې الوتکې نيسي

*   *   *

ها چې روسي هوا بازنه شوو يشتی

لښکرو لاړ پر هغه لوړ ګلونه

ته واقيام دی شهيدانو کړی

بيالو غرن دي دګو ګړ ګلونه

*   *   *

ماشوم شپونکی څه په هنرور خيژي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترینه راوړي ګیډۍ ګیډۍ په مینه

پرو چو شونډویې ټپه ښکلوي

ناوکۍ خورته وړې ډالۍ په مینه

* * *

لمدې خیړۍ ته مې چندڼ په سلام

شنې په باران مې بنفشې

د ښکلابرید مې څوک ټاکلی نه شي

بس یو ښایست یم بې نقشې بې نقشې

* * *

هغه د شنې غونډۍ ننښتر دې په یاد ؟

چې یې ټټر کې توغندی ښخ ؤ

چې یې پروکې سور ځونډې ښخ ؤ

* * *

اوس له هغه زخم نه ځانګه راشنه

چې پرې ورېمه راشي لونګ خوروي

او که شمال ور سره وکړي شوخي

بیا خو د شنو بنګړیو شرنګ خوروي

* * *

د شپې پردې ځانګه بلبله کیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سرودونه د زبورېږ په یاد

په سوي غږ سره محشر پنځوي

ته وا اسرار د کوه طورېږ په یاد

*   *   *

په سپیده داغ بلالي چیغه وکړي

څه په خوږه ژبه قران وایي

ټول کاینات ورته ټالۍ ووهي

په ترنم چې الرحمان وایي

*   *   *

راشه زما پر لمن لاس لګوه

چې څو مره غواړې دومره مینه درکړم

مسرې یې سپل د طاووسانو واخله

چې سپین غزل ته دې شنه وینه درکړم

*   *   *

که حماسه که دې جلال وي په کار

د برګې پړانګ لیونې سترګې لرم

او د جمال د نازکۍ لپاره

ګوره په رم د هوسۍ سترګې لرم

*   *   *

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې په لمنځو کې شمال وشیندم

دځنو بوی به دد لبرو هېر کړي

منم دخیال تیشه به و غور ځوي

دغه بتان به د ډبرو هېرکړي

* * *

درته به راولم شاعره اروا

دورک ارم دښاپیرۍ په بڼه

درته دلمرزرین تارونه اوبم

بس دسندرو دکیږدۍ په بڼه

* * *

که د سندرو ښاپیرۍ ښکلوې

څوګامه مخکې له خبل ځانه راشه

دشنو بنګړو شرنګایې اورې کنه؟!

درته نارې وهي کاروانه راشه

* * *

دښکلا داسې جزیرې درښیم

چې دشاعر سرې په خیال کې نه شته

ستا دیوې ټپې په زړې کې شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو ژبو په جوال کې نه شته

* * *

راشه چې لرې پروازونه درکړم

چې په شفق دې وزر ولګېږي

درته سکې د ښکلا توس اخیستې

تا په به ستاد هنرو لګېږي

* * *

راشه د شپې راشه شاعر به دې کړم

په شنو اوبو کې رانه ستوري ګرځط

دوی پرزرین مازیګر لوړه کړې

چې ټول به ستا دغزل توري ګرځي

* * *

لیک مې درو لیږه درو به رسي

هو دالهام دیوې کوترې په لاس

بازان یې نه لوټي ځواب یې راکړه

دشنه باګرام دیوې کوترې په لاس

* * *

ستا دبهیر یاران په مینه نما نځم

له شنې دعانه مې ځولۍ ډکې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

منم بهیر به شي د شمعو بهیر

له شهیدانو مې غونډۍ ډکې دي

* * *

دا عاشقان دا عارفان د بهیر

د صوفیانه نظام جنډې به واخلي

چې یې منصورؤ په مستۍ راوستی

په نوم د هغه جام جنډې به واخلي

* * *

ګوره چې هېر دې نه شم هېر دې ډیر دي

یوځلې بیا وایم چې بیا به راځې

پر پخوانو پلونو دې ګرد پریوتی

کرانه کاروانه خامخا به راځې

* * *

خدای خبر هېر دې یم که یاد به دې یم

زما پر زړه باندې خو ګرځې مدام

ها ، یې ماشوم شې لولکۍ رانیسې

دګل پر غوړ ګوباندې غورځې مدام

* * *

راشه جانانه پرې سندرې وایه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خیرې پاڼې پاڼې ژبې زما

راشه چې جانانه پرې سندرې وایه

د خیرې پاڼې پاڼې ژبې زما

راشه چې شین شم رنګ مې زیړاوښتی

د بېلتانه له زېړې تبې زما

* * *

چې مازیګر شي شنو دروته زما

لمر دزخمي مارغه په شان راشي

ستړي وزر راباندې و غوړوي

کاروانه ستا دزړه په شان راش

پېښور، ناصرباغ نوی کمپ ۲ /۷/ ۱۹۹۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه زېړه زرغونه

راځه دواړه د ښکلا پر سفر ووځو

له خپل کلي نه به لرې ولاړ شو

په یوه ځای ، په یوه آواز ، په یوه اندازه به

لکه غبرګې او خوږې سندرې ولاړ شو

دژوندون داوښ مهار به

دواړه ونسیو په ګډه

راځه ولېږدو په کډه

بار دستو رو د سپوږمیو

د سندرو چندڼ بو یوا و دزېړو زرغونو به

سره وتړو دلمر په زرې مراندو

دژوندون داوښ پر شابه یې بار کاندو

خامخا که په پېچومې کې پښه نیسي

ته یې ووهه د ګل په لښتو تاندو

* * *

د سلګیو پر کږ لیچ به

لکه سپینې اوښکې واوړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خندا په خانقا کې،

به دلوی صوفي له زړه نه

په ګډا لکه د مینې اوښکې واوړو

چې یې لمر پر تېرد څو که لګیدلی

هاغه اوږ کنډو خووینې !

د کنډو په غېږ کې تویې

د لمر څاڅکي څا څکي وینې

مخامخ به یوه او بل ته

د کنډو په سرکې کېنو

یکه زار به راته وایې

زه به سر دتېپې واخلم

ته یې بله مسره وایه

ورپسې چې غاړه تاوکړم

ته یې هم راسره وایه

ته به ښه یسته سوال شې

زه به ستا د سوال ځواب شم

د طاووس بڼکه ته شه

زه به غېږه د کتاب شم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به داسې رانه پوښتې

راته وايه چې ژوند څه دی

زه به داسې درته وايم

چې ژوندلو يه کرونده ده

پرې کرلي چالونګ دي

چا ګلاب دي او چا بنګ دي

او چا ګېدازغولودی

چاته خوږ لکه لومړی بوسه دناوې

چاته خپل ژوند د پردۍ ناوې په شان دی

شوې يې سترګې پسې سپينې

خو ده پټ مخ په پلو دی

ته خبره يې که نه يې

زه او ته دواړه شپانه يو

تورې سپينې رمې پيايو

د شيبو او د ګړيو

راځه پټ شو په شړيو

راځه ځلمو پر ليمځيو

خدای دې وکړي چې ټول مات شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

یر دې ږدمه پر بنګړیو

* * *

ګوره دا دې هم هېرنه شي

د کفنو او بدل زده کړه

له ځیږو ځیږو وژغنو

له پستو پستو وړیو

وېډارنې ته خو پاڼې غوندې رپې

مرګ خو بازنه دی چې زاڼې غوندې رپې

مه ډارېږه زه په زړه در سره نیم کړم

څنګه موسکه شوې او برندې راته ګورې !

هو پوهېږمه دژوند له ډېرې تندې راته ګورې

هسې ټوکه مې کوله

تا ته چاوې چې ډارنې

ها ، دی لاره کې مرګ ناست دی

ترې نه وباسه څرمنې

ته داغشي در سره کړه

زه لینده غاښکي په غاښکي سمومه

دژوندون د تاک په سرکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وانبکې سمومه

چې په میو یې طاووس غوندې رنګینې

زما او ستا دژوند شیبې شې

* * *

د شپو ورځوپربرګۍ رمه دې پام دی؟!

ددې لارې په کږلیچ کې

راته ښکارې چې ناست بودی

یا کیدای شي ورېي پړانګ جوړ کړی ځودی

ته به غشي راکوې زه به یې بولم

که مې وویستو د مه به کوم غیږی کې دې ځملم

دژوندون د جنت حورې غشی راکړه

شابه شابه د نر لورې غشی راکړه

ها تېره لکه د تورې غشی راکړه

ورته ګوره پر تندي باندې یې ولم

شیبه پس به ګورې غېږکې دې ځملم

ورته غوږ شه چې یې خرپ دې تندي واورې

په خدای خرپ بې داسې خوند کړي

لکه تا نه کله کله

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په ټنده کې خوله واخلم

* * *

افسانې غوندې به يو بل

مخ په وړاندې سره بيا يو

سره لاس تر غاړې دواړه

د ښکلا رمې به پيايو

چې په ګوته کې ژوندی مې

داغمی د سليمان وي

لاس يې خلاص توره ی آزاده

که لښکر لښکر د يوان وي

چې مې خدای په زړه کې ناست وي

چې تر څنګه مې جانان وي

که ځنګل ځنګل ماران وي

لکه غرونه راروان وي

ښاماران وي ښاماران وي

پرښتې د خيال راکړی

د هنر اسم آعظم دی

خدای راکړی يو قلم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې رانښکلي پکې ناست دي

په زرګونو تېره غشي

په يوه ګوزار به ووځي

د هر مار ښامار له تشي

که د غشو له شغا نه

د هوسۍ غوندې ويرېږي

ورته ګوره ټول ماران به

درته داسې واړه کاندم

لکه ستا د غچۍ ګوتې

پوره هم نه نيمه برخه

که لاوي دې زړه کې رخه

بس واړه واړه چينجي به

دوريښمو ترې نه جوړ کړم

تر وريښمينو پستو لاندې يې مړه کړه

چې تود زړه دې باندې سوړ کړم

د شفق خمُ کې يې رنګ کړه

سپين ټوکر دژوندانه پرې

سور چکن غاټول غاټول کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درانه اخوا لړووراخوا

د سره لمر مخکې ولاړ يم

په هر ځاځکي د باران کې

زهر جنې ورنګې مينځم

ته ولاړه د ګلونو پرل غوندېيو

لکه سپل د طاووسانو

لکه زيږه زرغونه يې

يمع ستا ددیدن تږی

راته ګرانې اوبه نه دي

ته يې غېږې ته ځولۍ کړه

د ګلپاڼوورګوزاره

په ګډا ګډا ايې يوورې

چا ويل چې زما طبعه

بس رواني اوبه نه دي

راځه لرې لرې ولاړ شو

نا آشنا وطن ته لرې

راخورې چې کړي پر سرمو

ښاپيرۍ د خوب وزرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه ورکه جزيره به

د ښکلا چيرته پيدا کړو

که امېل دد نګې غاړې

دې خطا کې رانه پرې شي

که يې ګوتو کې تش تارهم

رانه ښه ذرې ذرې شي

که به ټولې مرغلرې

ترې خورې شي ترې خورې شي

راته وايې به سندرې

ټولو م به مرغلرې

چې خوره به راته خاندې؟

که منت به پر ما کاندې؟

پرښتې د آبديت به

يونا ځا په راپيدا شي

او پر تو يو مرغلرو

به يوه دم خوره ځلا شي

دواړه لاس به ستا له غاړې

د امېل پر ځای راتاو کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په روان تخت کې به درومو

دیدار پیالې به مو شومو

۱۹۹۷ پېښور

د ښاپېرۍ ورغوی

پیر محمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ راتم شه لارو يه !

د شهيد آشنا دسمال مې

ملا وستنى دى له ملانه

شيبه وړاندې يم راغلى

له درنې لويې غزانه

ازانګه دګړنګ ژبه

شنه د تورو له خرپانه

په خورجين کې مې راوړى

هغه سر له اژدها نه

چې يتيم يې شو کولى

و ، له خانګې د موسکا نه

*   *   *

د خپلې غربې مې پرې دي

پښې مې ډکې له !غزو دي

په ټټر کې مې راوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مات سرونه د نیزو دي

د کاروان او ښان مې سترې

شهیدان مې پرې راوړي

مشالونه مې د شپو دي

دا په وینو سره سر کړي

* * *

ته دې غبرګ غوړونه وخورې

داناري مې ولې ناورې؟!

ګورې نه چې درپسې یم!

ښکوم دې د پښو خاورې

د سرې په شومه مور شې

په دې زړه لکه دواورې

د جانان د غم رانجه مې

دي په لپو لپو څښلي

دامې ټول خواږه یاران دي

دا چې نن پرې جوړ دي څلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې تش راغلی نه یم

زمانې مې په ځولۍ کې

لږ راتم شه لارویه

افسانې مې په ځولۍ کې

هر فریاد ته مې ورکړی

د سلګیو لړم ټک دی

د اوبو پر ځای مې څښلی

د خپل ډک زړګي پټک دی

د هر داغ تنهۍ یې واکړه

زړه مې ډیر د مینې ډک دی

د ایمان په تېغ یې وژنه

که پکې هم ذره شک دی

* * *

یو ما ښام ویو آشنا مې

زما زړه په لاس کې راغی

د کینې و ه که د مینې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو چاړه په لاس کې راغی

وې دازړه دې د کارنه دی

چیرته نوی زړه پیدا کړه

ترانې دې ټولې خامې

ورته سوی زړه پیدا کړه

چې غزلې يې خوراک وي

داسې روی زړه پیدا کړه

چې له ستورو خولګۍ واخلي

لمر پلوی زړه پیدا کړه

* * *

ماوې ښه لکه چې زړونه

دروپېۍ څلور خر خیږي

ددووسترګو په دکان کې

آشنا سپین او تور خرخیږي

نغد غمونه به پرې ورکړم

که نغمې په پور خرخیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زورور غزل به واخلم

که غزل په زور خرخیږي

دا سلګۍ خو مې ورجار شه

که څه ټنګ ټکور خرخیږي

*   *   *

زما دزړه کوترېې پرېښو د

آشنا شغ لکه باز لاړو

د قدیمو ستر ګو والا

په ډېرنوي انداز لاړو

زړه مې کړنګ له لاسه پرېوت

هی هی ما ت یې آواز لاړو

داغمی ذرې ذرې شو

ښایې ښه له کاره ووت

د اشنا د سترګو ترږی

څه پر للمه لاره ووت

داددوولمرونو ستوری

(c) ketabton.com: The Digital Library

له رنګین مداره ووت

* * *

لاړو یه هغه شپه مې

په خدای دومره ډیر ژړلي

ما خو هغه ورځ هم نه وو

دنن شپې په څېر ژړلي

هغه ورځ هم یوه ورځ وه

ښایي تانه به وي هېره

ته ما شوم وې که درياد شي

مو ده ډيره پکې تېره

ها لښکر چې وراغلی

زمونږ کلي ته دژنو

د سور خولو هلکانو

د شېر بريتو ببر څنو

تورې سترګې یې ګور ګورې

یو نیم رګ سور د کر کنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه مست په تکبیرونو

په ډلونو په اتڼو

هغه شپږ زلمي دې یاد شي ؟

ها چې دربې یې تو دې کړې

چې لُنګۍ یې کړې ګوزارې

ها چې څڼې یې کودې کړې

ها غور ځی به یې چې لنډ کړ

چې ټپې به یې اوږدې کړې

د شهید په یوه ټپه یې

د عالم سترګې لمدې کړې

ها چې ټولو ، ووې خدایه

»د مرګ سترګې یې ړندې کړې«

چې د بنګو په چلم یې

سترګې سرې ردې کړې

د چینې بر غاړه ناست وو

د چینې پر سر چنارو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چنار کې قمرۍ ناسته
او کوکو یې وار په وارو
سور کی اوښ مې راپسې و
د ګونګرو یې شرنګهارو
ټولو سترګې کړې راپورته
پکې پروت د مینې ښارو
ددې ښار دزړه په منځ کې
یو کاروان په ټپو بارو
جوړ لباس د لارویو
له قربان او یکه زارو
خو نتلي زړه ته تللی
یو غمګین غږ د ستارو
او د مینې له دې ښارونه
راتاو شوی لوی ښامارو
دغه شپږ زلمې راوتي
د همدې ښامار په ښکارو
* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

وئ !داڅه کوې خوب یووړې

لارویه رابیدار شه

کیسه بلې خواته لاړه

زوروره په کرار شه

څه به زه لارې ته سم شم

او څه ته پر سمه لارشه

او خله جیب کې مې خواږه دي

لږه خوله دې پې خوږه کا

د کیسې ودرانه بار ته

د غوږو ، ورته اوږه کا

هسې لاره لنډووپرې

چې اوږده را نه کیسه شوه

دا ته څه ستړی ماشوم یې

چې دې دومره تلوسه شوه

لکه تار کیسه تر ووځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا خو زړه سوری پیسه شو

د کیسې په منځ کې ډیر دي

د ښتې غرونه ګړنګونه

له سینو وتلي غشي

او په تُورو پرې ځانګونه

له خپل سر سره دي لوبې له

له ښامار سر جنګونه

پکې مینې هدیرې شوې

تشوي ډک پالنګونه

د کیسې دامنځ به پر یږدو

په خدای ډیره به ترخه شي

اوس ایله سر ماښام دی

هسې نه چې شپه پخه شي

د ښامار دوښو ځاځکي

به له سپینو ستورو جوړ شي

او غاښونه به یې ګورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له ځينو ستورو جوړ شي

زخم زخم د ظلمو به

له زرينو ستورو جوړ شي

دغه ټول ستوري به ګورې

چې يو بل سره جنګيږي

څوک به تښتي له مداره

څوک به ځمکې ته رالويږي

په کمرو کې به مات شي

په چينو کې به غور ځيږي

ژوند ددو پلونو تر منځه

شي دانه پکې د ليږي

* * *

په منځ منځ کې مه ويريږه

د کيسې پای ته راځمه

سپي دې غاپي رنګ يې ورک شه

د کيسې سرای ته راځمه

بس کيسه روانو مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا اصلي ځای ته راځمه
ته ما شوم وې لارویه
ځېله مست اوښان کتارو و
ځونډورې یې وې غاړې
د ګونګرو یې شرنګهارو و
یو انډی به د غلې و
بل انډی په غشو بارو
کاش د ګېډې دوزخ نه وای
داد غشو خو ، ښه کارو
بل مو کارنه و، خو ښکارو
ته به وایې د څه ښکارو
د کیسې والا ښامارو
ته هم ناست په یوه انډي کې
او ګنې به اوښ مغری دراوړد کړ
تا ځپېره ور کوله
الوتکه په هوا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نا څا پي وکړ نګيدله

ته به وايې د بار لاندې

ژوبله او ښه نړيد له

د يو بم بچي يې راوړ

هغه بلار به لنګيدله

بم د غره پر څو که ولويد

خو د غرې يې مزه نه وه

شي کيدای چې وي وچ موری

يا يې مياشته پوره نه وه

تاګنې د مټ د پاسه

تو غندي په شانې کيښوه

ګڅه سترګه دې کړه پټه

ښې دې خلاصه ورته پريښوه

د ښي لاس دويمه ګوته

دې راکش لکه ما شه کړه

په خندا دې کريږه وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هوا بازدې تما شه کړه

دغرور شونډې کړې بوخې

د پولادو چلوونکي

دګنيو په بند بند کې

دې ترخه زهر شيندونکي

ستا پر خوايې الوتکه

په آسمان کې راکړه کړه

د توپ ننبې ته يې جوړه

ستا ګنۍ او ستا اوړه کړه

دباروتو د زړه خوله يې

له ويشتو وړاندې خوړه کړه

هاغه غر چې يې آسمان ته

لړ نژدې څوکه رسيږي

چې اوښان پکې دوريځو

ددې څوکې تېره سرته

شپږ اوښان در ښتيا راغلل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تش روان وو ته به وايې

چې بس بار په بريښنا راغلل

چې ګډوډ له هوا بازيې

د خوږې ننبې نظر کړ

په يو ، رپ کې يې د سترګو

درز له غره سره ټکر کړ

يوه ګردي کانې د غره يې

د ښتګ پر ځای مات سر کړ

يوې تېرې ترانګې د پرښې

لکه لورنيم په ټټر کړ

په مښو که کې يې واخيست

ته وادايې لوی ارمان و

ها چې وړه يې په هوا کې

له هوانه کړ ه غاړه

الوتکه درې وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګړنګونو پوري لاړه

پروزرو يې شادو ګانو

کړلې چيغې پيغې سازې

ځينو شوخو شادو ګانو

پرې د پاسه کړې ميتيازې

موږه هم د الوتکې

غرمبيدنې واوريدلې

لکه ناوې له خوښۍ مو

ستر ګو اوښکې تويولې

پټې پټې مو په زړه کې

خوږې ګوړې ما تولې

لارو يه تاته ياد شي ؟

چې ګنۍ دې پراوړه وه

ها اوړه دې پر اوړه وه

ها اوړه دې په دې وخت کې

له ګنۍ نه هم خوږه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږه ټول تاته ووې.

تا ویشتلې مبارک شه!

خدای دې مل شه، په دې غرو کې

درته تیر د نور سرک شه

خودې وخت کې یو نا څاپه

یو کیفیت درباندې راغی

ستا په سترګو کې وې اوښکې

څه هیبت درباندې راغی

د شاعر په شانې بل شان

شعر یت درباندې راغی

افسانې مو درته کړلې

حقیقت دربانې راغی

د ګنې له واړه بار دې

په یو دم سپکه اوږه کړه

اوښ چې غاړه درکړه کړه

دده خوله دې پرې خوږه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

له انډي نه دې راټوپ کړ

په ښاغلي غونډې ترپ کې

خلاص ګونګري داوښ دپښو دې

کړل ژرژر په يوه خرپ کې

د کاروان او ښان دی تم کړل

ديو دوو سترګو په رپ کې

ستا په سترګو کې وې اوښکې

تا ورې سلګۍ وهلې

ستا ورې ورې خبرې

په مرۍ کې ښخيدلې

ستا ګنۍ غوڅۍ سرې شونډې

دوې ګلپاڼې رپيدلې

ستا په سترګو کې خبرې

په څپو وې په غورځنګ وې

هغه شپږ د ګلو ونې

نس ته تيرې يوه نهنګ وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو دې شپږو شو کولې

له نهنګ نه پښې د سنګ وې

شپږ او ښان له بره راغلل

یو ځاروان تش راروان وو

شپږ د ستماله هر دستمال کې

تاو دوړانګو یو باران و

سپینو او ښکو کې راشنه مو

ځانګې ځانګې ارغوان وو

په دې هر دستمال نغښتی

هر یو زړه زما جانان و

* * *

راشه راشه چې دې ښکل کړم

زما ښکلیه لاروی

ته زما دنغمو سیری

یه زما ماته زړګیه !

د دې شپږو لارویو

ها اووم ملګری ته یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکاروان دغزلونو

او سندرو څوری ته یې

یادونه: گنې (گنی)　　　۷ / ۱۲ / ۱۹۹۷ ناصرباغ

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو شاعر وژنمه يو قتل كوم

ورځم د ژوند د جريدې پر سپينې ټنډې باندې

د خو نړۍ قاتل عنوان لګوم

يو داسې تور مې پر خپل دين او پر ايمان لګوم

چې په ژوندون کې مې څوک نوم وا نخلي

زه که شيدې شمه که شات شمه که قند او نبات

چې د ښار ښکلي مې په ژبو لکه زهر او ذقوم وانخلي

په هغو کلکو تکو سپينو اطلسي رسيو ملاتړمه

راکوزول چې پرې شين ستر ګي هوا بازله هوا

زموږ د کلي پرسم منځ باندې خوار بمونه

ځم نه و د ريږم ملا تړلې د غره سرته خيژم

له هغې شنې پرښې را با سمه روسی توغندی

چې مې د ښکلي کليوال شپونکي دزړه په تودو وينو سور دی

هغه شپونکی چې په شپيلۍ کې به يې ژبه د څپو ګډه يده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په سندرو میوندۍ کې یې ملا له د ټپو ګډیده

هغه شپونکی چې یې د ستورو غوندې وري درلودل

هغه شپونکې چې یکه زارته یې سپوږمۍ د تور وشپو ګډیده

هغه دده په وینو سور هغه روسی توغندی

د کلي پښن ته راوړم

چې ترینه دروند او تیره تبر جوړ کړي

په شکرانه کې یودوه درې منه غنم ورکوم

له ابرهیم نه په بخښنې هسې نه چې پرې بتان ما توم

په دې تیره په دې درانه تبر مې ځان وژنم

اد کې مورې لاس مې مه نیسه ځان نه وژنم کاروان وژنم

هغه کاروان چې همدا ستا زوی یې له کاره وایست

په جادوګر عشق یې د عقل له مداره وایست

هغه کاروان چې له چنار سره یې زړه پیوند کړ

چې له چناره سره څانګې څانګې و غځیده

چې د چنار پاڼې یې ژبې کړې پرې و غږیده

چنار اخستې د بر کلي له شپانه نه په زکات سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپینو اوبو کې به یې خامخاوي څېنلې اوښکې

د کومې بورې کومې ورارې هوسۍ

خو ما د ټولو ښواوبدو سره

چنار د لرې کلي جانان ته کړو په مینه اهداء

خو جانان و نه ما نه

وې دې خبرو کې خبرې شته سندرې نه شته

خوند د باروتو په کې ډیردی او شکرې نه شته

پر هغه کلکو تکو سپینو اطلسي رسیو ملاتړمه

راکوزول چې پرې شین سترګو هوا باز له هوا

زمونږ د کلي پر سم منځ باندې خرو اربمونه

له توغندي جوړ په درانه او په تیره تبر چنارغوځوم

پریږدئ چې غرونه غرونه رنګ شي او چې خرپ یې واوري

دې زوروریې د ښایست پرکروندې باندې وسیوری کړی

پریږدئ جانان مې چې اوس لمر ووینې زیړه زرغونه ووینې

پردی چنار څه کوي خپله جامه شنه ووینې

ورځم د برکلي کنډو ته د شپونکي شهید له قبر ځنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوګر دي کاڼي په ځولۍ کې راوړم

پردي دې نه ويريږي ، سترګو ته دې لاس نه نيسئ ، نه يې ولم

زه پرې د خپلې نازولې او شاعرې شپې تندی ماتوم

نن مې لاسونه سره دي سترګې مې سرې

چې شومه دم شي شپه پخه شي او ويده شي خلک

هغه شاعره ښاپيرۍ که چيرته راشي د الهام له ښيښې

اسم آعظم به يې په پيڅکه د سالو وتړم

سلام يې نه اخلمه مخ به ورنه واړومه

له ډيره قهره به غاښونه ورته و چيچمه

ورته به ووايم ورځه په مخ دې زيږ ګلونه

وينې مې نه چې مې لاسونه سره دي، سترګې مې دي وينې وينې

ګوره کنځادرته کومه او له سرنه دې د ستورو ډک د سمال غور ځوم

بيا به آسمان ته په دې توره شپه کې څنګه خيژې !

اخر افغان يمه پرعزم باندې ټينګ ولاړيم

بس دی پر ما د جادوګر حسن منتر مه وايه

يو شاعروژنمه يو قتل کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه غوغا جوړوم شورجوړوم

خپلو سندروته پيغور جوړوم

لاس چې رانه وړې ګنې لاس دې په خنجر وهمه

زه مې په خپل زړه کې خنجر ښخوم

کوم وړې سپې ته مې دا زړه غور ځوم

ترهغه سپې ښايست نه سپی ښه دی

چې مې دالعل کړو ، ورپه غاړه وې په دې کوتې لعل زه څه کوم؟

وئ ! دامې چې په جادوګرو لاسولاس ونيوه؟ !

چا سندر مارې مې په زړه کې په کټ کټ وخندل

پيښور ، ناصرباغ ۱۹۹۷/۱۲/۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهوسۍ دشیدو بوی

بیا داو ښکوله شبنم مو

وچ دسرو سترګو غاټول کړ

دپاتا ټغر مو ټول کړ

په جو مات کې مو بر وځې کړې هوارې

دزیړي شهید په شانې زیړي لمر ته

مونږ په اوښکو امدې ورځې کړې هوارې

په ټټر کې مو ټکور کړل پرهرونه

زنګ مو ګډ کړ دغلیم پر خنجرونو

دمرګ سترګې مو کړې ټیټې

دژوندون په برګو سترګو

دنظر لاس یې ور غوځ کړ

دجانان دبڼو درګو

هر سهراب دزخمي زړه مو

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوش د صبر نوشدارو کړل

په خندا مو پرهرونه

دلیلا د سر سالو کړل

مو نږ تراخه تراخه وختونه

ډوب د شاتو په کندو کړل

غم مو ونیو له مری نه

ترې قلنګ دخوشحالۍ مو په زور واخیست

سپین لمنې ژوندانه مو

دتودې مینې تور واخیست

ډیرو مستو لیونو مو

په ورغویو کې اور واخیست

پاڼو ګرو شازلمو مو

مرګ په شان دمنګور واخیست

پرې مو وتړل دژوند ګیډۍ ګلونه

***

زمونږ ژوند لکه نجلۍ زمونږ د کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د جنګ په ورځ پیدا شي

او د جنګ په شپه شي پیغله

ښایست په آیینه کې

اول موسکه شي بیا کټ کټ په خندا شي

چې نلی یې ښې رجړومه

د سل ډزي ما شینګنې

سلایي یې ماته ستن د کلاکوف شي

د خنجر په څوکه خال پر زنه کیږدي

له چاودي بم نه وباسي نري نري تارونه

په کې وپېیي مرۍ او مرغلرې

په ځونډویو کې یې پټې کړي هنداري

ترې نه جوړ کا امیلونه او هارونه

چې د مرګ موزیګی سترګې کا ورجګې

پسې شونډې کا ندي بوڅې

له خندا نه پسې داسې تکه شنه شي

ته وا پاس د غره په سر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زيګويو د مجاهدو وهي غاړه

او د هسک په لوري پورته

الوتکه تري نه و لاړه

دليوه له ځرمن جوړه

چندني چمبه په لاس کې

داد دنګو غرونو پيغله

کليوالې ټپې وايي

د ملالۍ ټپې وايي

دا د جنګ د وخت کيسې دي

چې په وينو تکې سرې دي

لا به خلاصه يوه نه وي

چې سل نورې ورپسې دي

هو منم چې ستا په زړه کې

ډيرې ډيرې تلوسې دي

چې ليوه وه چا وژلې؟

چې ځرمنه يې چمبه شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنجلۍ په اوږدو ګوتو

ټپه خرنګه لمبه شوه

ښه ده غوږ کیږده زړګیه !

هغه شین ځنګل خو وینې !

چې د شنه دریاب په شان دی

چې راښکې پرې خوږ میده میده باران دی

چې پر سر یې د مرګ زیړه بیړۍ ګرځي

پرې د پاسه د بوډۍ د ټال باد بان دی

دا ځنګل دا سې ځنګل دی

وخت ناوخت پرې د پولادو ږلۍ اوري

کله کله یې په غیږ کې

د باروتو سیلۍ ښوري

د دوزخ د لمبو ستوري

د دې شنه ځنګل په غیږ کې

یوه زرینه هوسۍ ګرځي

ته وا سپین ستوري ترې ورک دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه زېړه سپوږمۍ ګرځي

دا سې وخت و چې هوسۍ روغه هوسۍ وه

لکه اوس لېونې نه وه

د سپوږمۍ سپينې رڼا ته

دوو کبليو به رودله

د آسمان ستورو ليدله

يو سهار چې يې کبلي په خوب اوده وو

د هوسۍ تېونه تش وو

څو چې ډک تېونه راوړي

يو کبلی يوه کبلۍ وه

زېړي لمر ته ويده پرېښول

لمر خپل ځان ورته هوسۍ کړ

دوی يې غېږ کې تاوده پرېښول

کله وړانګه ورته ژبه کړي ځټي يې

پلوشې يې خواږه ښکر شي ګروي يې

هوسۍ لاړه يوې داسې شنې ورشو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې سپاره پکې ډوبيږي

دبمونو تش ډولونه پکې توی دي

داوابنه چې په باروتو کې را لوی دي

لړ نه ډیر غوندې ترخه دي

دګنډیر غوندې ترخه دي

خو هوسۍ يې خوري په خوند خوند

خدای شته ډیر ورته خواږه دي

په شيبه کې يې بس تش تيونه ډک شول

چې په پښويې تي لګيږي

پروښو يې تي لګيږي

ټکی ټکی سپينې پی دي

دوښو پر پاڼو لويږي

له نشې او له مستۍ نه

دهوسۍ ملالې سترګې

سرې شوې څرخ وهي ګډيږي

دزمرۍ غوندې څليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

لکه دوې ډیوې بلیږي

په قدم قدم روانه

مسته مسته ده نشه ده

دا زرینه هوسۍ ګورئ

نن د شنو میو شیشه ده

د زړه سر ته یې ورکړې

دیرغل لړم لشه ده

کش او کړپ یې لرې وا اورید

څه یې شک په رړه کې تیر شو

نا څا پي یې لیوني غوږونه څک کړل

سره په وینو خوله لیوه یې لرې ولید

یو سور سوی یې په زړه تیرو بیر شو

نیزه باز یې له خپل قهر ځینې جوړ کړ

د جنګي آسپې په شان پر لیوه راغله

***

د هوسۍ په ښکر پیېلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځنګله دلیوه زړه دی

له دې زړه نه دهوسۍ دشیدو بوی ځي

له شیدو ځنې دلمر دشغلو بوی ځي

دچمبې له خواږه غړنه

څه د سو یو نغمو بوی ځي

۱۳۷۶ دروژې مبارک میاشت پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټپو يې ژبې واکړئ

غرله غرد سره نښتی

جنګوي تندي د کاڼو

سل منۍ ډبرې رغړي

ته وا ميندې دي دبيا ڼو

له اوږويې خور جينونه

لاندې لوېږي دګلپاڼو

ميندې بورې پر ګور ګورو

پر کرکڼو پر ممانڼو

درمندونو کې راتوی شول

کټوري داورله زاڼو

لمر هم ټول سيوري وژلي

دژوندون د شنو بکيا ڼو

د شيرين وطن په نوم دې

فرهادي تيشه در واخله

ډبرينې دروازې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې غرونو خچې پچې

چې غولا نځې يې شي ډکې

دژوندون چينې دي وچې

په دې غرونو کې بنديان دي

زرسيلو نه د طوطيانو

په نبا تو يې ماړه کړئ

په شکرويې ماړه کړئ

د مرګي تندې ځپلي

په سندرويې ماړه کړئ

چا رانجه وربا ندې څنبلي

چا په غشو دي ويشتلي

پر ټپونو يې دوا کړئ

په ټپو يې ژبې وا کړئ

په کټ کټ يې په خندا کړئ

آوازونه ورته راوړئ

پر وازونه ورته راوړئ

دوطن په شنه آسمان کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې خواره واره په سبل کړئ

پرې جارو د جنګ لوګي کړئ

جوړ د سولې ترې ا مېل کړئ

* * *

له تبۍ درو اخله پاستی

چې ډم ډول ته ورکړ لا ستی

ډنګه ډنګه د ډول غږ دی

د ټېپې د کهول غږ دی

زنګوي ستوري په غېږ کې

په ګړنګ کې راټول غږ دی

د خپل داغ رانجه يې ښنبلي

ناست د سرو وينو په رنګ کې

بيا د سوي غا ټول غږ دی

ورته ځير دی داسې ښکاري

د نرګس سترګې يې ځاري

وايې بيا به کله پا څي

چې محشر جوړ شي او نا څي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د روح پر وچې للمې

نغمې ځاځکي ځا ځکي ځا ځي

پاس پرې ناسته قمرۍ ښکلې

د ګل ونې کرږه ځانګه

یې لیندۍ غوند ې راښکلې

دآواز غشی یې راشي

داسې خوږ مې پر زړه لګي

چې رګ رګ مې په ګډاشي

لاس د یار مې ږدي پر سترګو

تولې ګوتې یې رڼا شي

هغه خدای چې رانه ورک وي

په هر لوري راپیداشي

*　　*　　*

ځئ چې غشي لیندۍ واخلو

دلیوانو په ښکاروو ځو

یو څو نوې تیرې واخلو

په قربان او په زاروو ځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ ! دا زموږ شعار دی

دلیوه پر سترګو زار دی

هسې نه چې یې پر تشي

چیرې و لګیږي غشي

چې ځرمنې یې سورې شي

زموږ کار به بیا ښه نشي

هو لیوانو ته اخیستي

موږ د غشي په تلي دي

چې بې رحمه یې وژلي

سل هو سۍ او زرکبلي دي

په هنر هنر به وچې

دلیوانو کړو ځرمنې

ترینه وبه خر یو پاکې

هغه شنې ځیږې وژغنې

په وطن کې مو بې شمیره

شته درانه درانه توپونه

د ډولونو په شان ګیډې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وازې خولې لکه دیګونه
چې له خولې نه یې راوځي
ددیوانو آوازونه
په اوازکې یې اورونه
ښاپیرۍ یې دې وژلې
سو ځولي یې کورونه
ددیو غږ به ترینه واخلو
شوراو ځوږ به ترینه واخلو
د هر توپ پروازې خولې به
دلیوه ځرمنه تاوکړو
په کې تود په سراوتال به
سازد سولې او دنیاو کړو

پیښور۱۳۷۶ تله۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به راځې، ته مې په خوب لیدلې

ته به راځې ، ته مې په خوب لیدلې
پرسردې تاو ود هراتۍ تورد لونګې، د کندهار زلیمه *
په کې غونچه غونچه ټومبلي تور لشي اوزرین رنګي غنم
لشې لشې باڼه دې نېغ وو ، شمله دار زلیمه
اسماني آس دې تر پښو لاندې مستانه روان و
په شرنګا شرنګ لکه موزونه ترانه روان و
پر مخ روان لکه روانه زما نه روان و
قدم قدم یې ود سردا ستا دانو استاد
ته وا چې نال نال یې چا جوړو له تیشې د فرهاد
ته به راځې ، ته مې په خوب لیدلې
دغه دزېړې زرغونې تر پلو شو لاندې شنه غرونه وینې !
زرین وزري طاووسان دې استقبال ته ولاړ
دغه د سر د شفق په شال پټې رڼې ویالې روانې ګورې !
درته وریښمینې څڼې بیا دې ښا پیر یو خورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به راځې ته مې په خوب ليدلې

ولې به نه راځې ، نو خود به راځې

چې يې ستا نوم زموږ پرتندوتک وهلی و په شلو ميخو

ترتو رولاندې مو په پرې سرونو ستا په خاطر

شهيدانه رقصونه ډير کړي دي

د خپلو وينو پر څادرمو ستا په نوم ، نفلو نه ډيرکړي دي

زموږ د پيغلو پيغلو خويندو د سينو په غو څولو باندې

د ی۔المانو قصابانو چړې ډيرې پڅې

راځه راځه دزړو نوبت کې مو نينې دي د پولادو پخې

بو.ن يې واخلې تېرې داړې شي د مرګ ورته له وېرې پڅې

ته به راځې، ته مې په خوب ليدلې

ترتا قربان، دصوفيانه نظام منصور سرداره

للمي غاټول ته پر خې پرخې، پسته ور، بارانه

رنځور وزړونو ته اناره دانګور سرادره

ته به راځې ، ته مې په خوب ليدلې

په خامو پيوها لمدې چړې رندې دي رندې

هغه په تاندو وينو سرې تورې نن زنګ خوړلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبربه نه يې چې مغرورې قرعونې ككرې

ددريابې قهر زرين غوندې نهنک خوړلې

ته به راځې ، ته مې په خوب ليدلې

د سخې جان سپينو كو ترو درته لويه سلامې نيولې

تر تا جار يږې خوايې ستا غوندې زلمې نيولې

او ښكو تا بيا د جوړو لو ستاو تاج ته د غمې نيولې

كر كې ځپلې يو د سختې مينې ډير ترږې يو

يه تر الما سو ځليدونكيه او ځپانده روده

په غورځنګو نو شه په تور كمر كې لاره باسه

زموږ د بخت پاچا راځه پنې دې مه وبا سه

ته به راځې ، ته مې په خوب ليدلې

پر سردې تاو د هراتۍ توره لونګۍ، د كندهار رزلميه !

په كې غونچه غونچه ټومبلې تورلشې اوزرين رنګې غنم

لشې لشې باڼه دې نيغ وو شمله دارزليمه

ته به راځې ، ته مې په خوب ليدلې

ته به راځې ، ته مې په خوب ليدلې

۱۹/ ۱۰ / ۹۸ پيښور ناصرباغ نوې كمپ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاپیرۍ زما همزولې

ښـــا پـــیرۍ زمـا هـــمزلـــې، او نـــغـمـــې ترمـــا مـــشـــرانې
ښـا پــیرۍ تــر ګـرانــۍ تــیـره. خــو نغمې رابانـدې ګـرانــې
ښـا پــیرۍ پــه خــوب کــې ویښې، او ښاغلي نغمې راوړي
ښـا پــیرۍ پــه ویــښــه راشي، خـــو بـــولــي نغمــې راوړي
ښـا پــــیرۍ بـده بـلاه ده ، وابـــکـي وابـکې لــه تــاک واخـلي
زمـــا پــه زړه کــې وغــزیـږي، رانـــه واګــې دواک واخــلـــي
چې مــنکر شــمــه لــه میـنې، دا نــو ځــان راتــه ښکلا کړي
ماشومتوب ته مې را ستون کړي ، افــســانــې راته ریښتیا کړي
ښـا پــیرۍ د اختر شــپه ده ، زه د بـر کلـــي مـــاشـــوم یـــم
مـــرګـــي ځـــو راتـــه نـیـولـی، خـو ژونـدی ددې په نوم یم
له بد رنګ جنګ نه مې ساتي ، ښـــکـلـي غــرونه رانـــه تـاو کړي
شـیـــن د شـــنـو بـــنـګړو له شرنګه ، ساز د سولي او نیاو کړي
خو چې وخت د ښکلي جـنـګ شي، شنه بنګړي ایسته ګوزار کړي
د منصور سکنۍ خـور شــي، ســپــیــنـې لـیچې راته دار کړي
زه یـې تـــوري د غـــزل کـــړم ، د لـــونـــګـــو دا یـــې راکـــړي
خـــو چـــې وږې د مـــســـتـــۍ شـــم، د شـــنـو بنګو دانې راکړي
مـــا د ډول پــــه غـــږ کــې نــغـــاړي، ګــړنــګـونو له مې یوسي
د نـــغـــمـــو مـــســتـــه ځــپــه شي، غورځنګونو له مې یوسي
ښـا پـــیرۍ لـــه قـــافـــه راغـلــه، زمـــونـږ کلـی ور معلوم دی
پــه لـجـرومـه کــې یـې کـښـلـې، پــه وریـــښمو زما نوم دی
پــه لـمانــځـه چې ودریـــږم رکـعـتـونـه را نـــه هـیـر شـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښـــا پـــیــــرۍ مــې زړه تــه راشــي، جـنــتــونــه رانه هیر شي
ښـــا پــــیـــرۍ د ګلــو ونـــه د غـــو ټـــۍ نـظـر بـه راکـــړي
ښـا پـیرۍ سـخـي مـلـنګـه، د خـولګـۍ نـظـر بـه راکړي
ښـــا پـــیـــرۍ د شـــعــر الـــهـــام شـــي، کلـــه کلـه ترۍ تم شي
د زمـــري غـــونـــدې یـــې ځـارم، ښـا پـیرۍ د هوسۍ رم شي
ښـا پـیرۍ کلـي تـه راغـلـه، ښـا پـیرۍ بـه غـره تـه بـوځــم
ښـــا پـــیــرۍ د مـیـنې تـنده ، ښا پـیرۍ بـه زړه تـه بـوځــم
د رحـــمـــت وربـــځـــي راغـــلـــي، پـــرځنګل به باران وشي
ښـا پـیرۍ تـر کـوچـو سـپـیـنـه، تـکه سپـینه غوا به لوشي
ښـــا پـــیـــرۍ بـــیـګاه تـــه راشـــه، اوس مـــې ښه کاروبار جوړ دی
پـــه زرګـــرې شـپې مـې تاته ، نن له ستورو نه هار جوړ دی
ښـــا پـــیـــرۍ زمـــا اســـتـــاذه، پـــر غـــزلـــو یـې لاس بر دی
راښـــودلـــی یـــې پـــه خـــوب کـې، د ســندرو پـیـغمبر دی
ښـــا پـــیـــرۍ مـــې ســـپـــیـنـه بـازه، شین د زړه کوتر مې وخوري
پـه پـــنـجـــو کـې مــې ور تـــول کـړي، په هنر هنر مې وخوري
ښـــا پـــیـــرۍ پـــه ســـفـــرځـــمـــه، د خـــبـرو ځـــورۍ راکـــړه
خـــا مـــا خـــا کـــه شـــیـــن طوطي شوم ، د شکرو ځورۍ راکړه
ښـــا پـــیـــرۍ مـــراقـــبه شـــوه، ښـــا پـــیـــرۍ خبرې پریښوې
مـــــوره رانـــــه ګـــرځـــې، تـــــرې نـــــه مات مې یو بنګړی دی
ښـــا پـــیـــرۍ تـــه مـــلامـت یـم ، تـرې شـکـولـی مې ځونډی دی
کـــچ او کـــیـــچ یـــې وړم د لـــیـــچـــو ، شنه بنګړي به ورته راوړم
د لــــونـــــګـــو دمـــریـــو ، ډک ځـــونـــډې بـــه ورتـــــه راوړم
چــــې لـــه ځـــان ســـره روان شـــم ، ښـــا پـــیـرۍ را سره مله شي
د ســــتـــړیـــا مـــتـاع مې لوټ کړي ، مــهـربــانــه غــونـدې غله شي
که نـــړیـــۍ مـــې مـــخـــالـــفـــه، ښا پـــیـــرۍ مـــې پـــه طـــرف ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې امامه د ګلونو، او زړو پرخو د صف ده
د اخلاص څپېړې ورکړم، چې کوم دیو د وسواس راشي
زه چې دومره ریاضت کړم، ښاپیرۍ به په لاس راشي
ښاپیرۍ رنګونه راکړه، سرو غاټولو رانه غوښتي
ګلابونو او نرګسو، آن چې ټولو رانه غوښتي
ښاپیرۍ په غنم لوکې، زمونږ برکې ته راشي
د حجرو د جوماتونو، د ګودر کلي ته راشي
ږلۍ بند له کلي تاو کړي، شین قرآن په غیږ کې واخلي
زمونږ کلی به د امن، او ایمان په غیږ کې واخلي
اوس به ول د څڼو راکړي، لو کومه ملا ترمه
یو ګیډۍ قبوله شوې، په آمین دعا ترمه
نور قلم به مې سور ګل شي، په خوږ لاس کې مې کړلی
ښاپیرۍ په شین دسمال دې، غوڅ ورغوی را تړلی
که له تندې مرمه مرمه، که ژوندون سراب شي

مرغلره خوله به راکړي، ښاپیرۍ به شین دریاب شي

۱۹۹۸/ ۱۲/۱۲ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

شین همځولی ((دځنګل دلیک ځواب))

مینه مـــې ومنـــه په مینـــه مینـــه

ستـــا پـــر کرکنه پر مـــمـــانـــه سلام

ستا دنـــښـــتر پر زلفـــو زلفـــو سلام

ستا د ځـیـــړې پر پانه پانـــه ســـلام

چې ستـــا پـــر ســـر ده له کتـــاره وتـــې

پر هـــاغـــه ستړې ناسته زانـــه ســـلام

* * *

لیـــک دې ځـــه ډیره موده مخکې راغی

هـــی هـــی چې زه دځواب تـــاب نـــه لرم

دخـــیال نـــیـــلـــې مې ګوډ په نیمـــه لارکې

مـــلـــونـــی یـــې پری پښه په رکاب نـــه لرم

دشـــعـــر پـــادشاه ته یې شاګرد دی یمه

بې لـــه تـــا شـــین دشعر کتـــاب نـــه لرم

* * *

داســـې خـــومـــه وایه چې هیر دې ډیر دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانه پادشاه مې ته یې پیر مې ته یې
په وینښه هم زما په سترګو کې یې
د سهار خوب مې یې تعبیر مې ته یې
د زړه هنداره درپسې ګرځوم
د هغه ستر نقاش تصویر مې ته یې

* * *

ګرانه زه ډیر د مینې وږې یمه
لکه یتیم مې پر سر لاس تیروه
ما سره غرونه غرونه مینه کوه
زما پر زړه د هنر لاس تیروه
په تور کمر کې هم چې ښکلې ګورم
پرې ښه روښان د جوهر لاس تیروه

* * *

خالي لاسونه مې له ستورو ډک کړه
چې پرې لمنه د سپوږمې ونیسم
ستاونې د نګې دعاګانې زما
د ښکلا عرش ته به ځولې ونیسم

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ګیدړ خیال وختـــونه برند دي ولـېِ ؟
لنګه زمری به تـر لکـــۍ ونیـــسـم

* * *

ته دخـــدای شین باغ یې ښامارخونه یې
چـــې ګنــې تا دلال ثـــنـــا ویلـــې
زرګـــونــه کاله تـــا دحـــال پـــه ژبـه
دهـــغـه ستـــر جمال ثـــنـــا ویـــلـــې
تـــا دبلا ل درنګ پـه تـــوري تـــوري
دپـــرښـــتـــو دخـــال ثـــنـــا ویـــلـــې

* * *

ما بـــه سوما ګڼـې دخپـلـې غیـــرې
دهـری شـــنــې ونې پـه ســـردې قسـم
شـــراب شـــراب به زما شعـــر جـــوړوې
پر شـــــرابـونو دکـــوثــــر دی قسـم
لـــــه درده ډکه مې غـــزل تـــوري لـره
پـــرشـــــهید غـــاښ دپیغمبر دې قسم

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه چې ماشـــــوم وم افسانې مې خوښې
چـــې ترابـــان بــه ګـــل انـدامه یو وړه
مـــــاوی چې ته به وې قـــاصد جوړشوی
تـــابـــه خـــبـــره تـــر بهرامه یووړه
په دریم ګـــــام کې به شول ښکیل ترابان
کـــــه دا ولجـــه بــه یې دوه ګامه یو وړه

* * *

ته خـــــو اوس هم له شنو خوبونو ډک یې
په خـــوب کې ډیر زیـړي ګلان رالیـــږه
دګلا بـــــونو په رنګونو کـــې رنـــګ
ها ســـــور وزري بـلبـــلان رالـــیـــږه
یــه د سنـــدرو مرستـــنـــد ویـه زمـــا
دغـزلـــونـــو غـــزالان رالـــــیـــږه

* * *

لـــه مـــــانـــه ښکلیو تښتولی زړګـــی
څــه چې راپــــاتې وه سـندرو وخـــوړ
یو څه شین رنګ شـــو تا ته لیک پری لیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه هم داوښکو مرغلرو وخوړ

د سر ښیښه کې چې شو ګل دفکر

وینو ته تروږو په ډبرو وخوړ

❋ ❋ ❋

یو څو خیالونه نوي لوزي لرم

ځان سو ځوم خو دغزل اور غواړم

منم هوسیو دې ګیلې راوړي

داګلالۍ قافیې په پور غواړم

دژوند دریاب لرم څه مړه خونه یم

دڅپو ژبه وایم شور غواړم

❋ ❋ ❋

ان ترسهاره دې غم وینښ ساتي ما

شپه رونوم تاته شپیلۍ غوږوم

دناصر باغ دشهیدانو ترخنګ

دهدیرې شاته شپیلۍ غږوم

ستا د شهید شپونکي ویرنه وایم

د "پسرلي ماته شپیلۍ" غږوم❋

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

ستا د رڼو چینو د تندې مینه

بس د "درویش" په ترانو ماتوم*

"پیکار" اشنا یې له سپین غره راوړي*

خمار د بنګ په پیمانو ماتوم

له ولولو ډکه هوسې تلوسه

د "غضنفر" په افسانو ماتوم*

* * *

ته واچې ستا د سیلۍ شغ په کې دی

د "کلیوال" مستې سندرې اورم*

د "شاسعود" په پادشهۍ کې ګرځم*

نغمې د "مستې قلندرې" اورم*

چا زهر هم د خندا جام کې راکړل

له چا ترخې ترخې خبرې اورم

* * *

په وینه وینم لکه خوب ښاپیرۍ

پر مایې زیرې د غزل کړې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دچا اواز لـــــکـه دشـاتــــو خــــوږو
خدا یـــــږو په مـاخویې څه چل کـړی دی
وی: ته خبرې کـــــوه چوپ یې ولـــې ؟
کاروانه چیرې دې مـــــزل کـــــړی ده ؟

* * *

یوه شاعره هم په خوب کـــــې راځــــي*
سوریې کمیس وي دالوان اغــــو ستــی
شــــنــه یې لستو نې لکه ستــا بنفشــې
او سپـــیـــن پرتوگ یې وي د سان اغوستی
ته یې راشیـــــن په تورو سترگو کـې وې
موسکی نظر یــــــې وي ایمان اغوستــی

* * *

کله چې وخــــانـدي رښتــیـا وایــــمــه
غونډیې غونـــــډې شي ارغـوان گلـونه
روښــــان تندی لــــري دلمـر دذاتــــه
شنې رزغـــــونې کاندي باران گلـــونـه
شرنگ دپایزیـــــب یې وي قدم په قـــدم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړپـــيېږ وروستـو وي روان ګلـونـه

* * *

خـــوږه خوږه دڅپـو ژبـــه وايـــيې

په غـــور ځنګو لـکه درياب روانـــه

لکه ټپـه پــه ســاز کې تــاوه راتـاوه

ســـــره دډول او دريـــاب روانـــه

پـــر بـــــد رنـګيـو بـه يرغل راولي

لـــکه دښکلـــي انـقـلاب روانـــه

* * *

رانـــه وي شمـع لګيـدلـــې پـاتـــې

په شومـــه دم کې شم له خوبـه راويـــښ

دخوشحـــالي اوښکې مې سترګوکې وي

په ښکلي غـــم کې شم له خوبـه راويـــښ

غزل غـــزل شمه نغـمـه نغـمـه شـم

ويـــده قلم کې شم له خـوبـه راويـــښ

* * *

شــــمعې ته ګوره خوپه سترګو کې مـې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تللي خــــوب يو سترې سيورى ناست وي
شمع قـــــلم شـــي او خبـــرې كـــوى
پر سريې شيــــــن د غزل تورى نـاســت وي
شمع نښتر شي ، شمــــــع و غــــځيــږي
پرې سور وزرى غـوندې ستورى ناست وي

* * *

رانژدى زړه ته تر ليـــــلا نــه ډيــريـــې
دالرى نه ده چــې مجـــــنون دى نه شـــم
خــــــداى مې دې ګل ستــا دلمنې لري
دچا پـه ســــــترګو كې زرغون دې نـه شـم
چې مې له څانــــګې زر شهبازه جوړشي
شم دې ادا نه چې ســـــتا زيتون دې نه شم

* * *

زه به په كـــلــي كې كــو كـــنـــار و كـرم
چې ستامــــچۍ راشــــي ګلونه يوسي
او كه پر كــــلـي ږلـــــــۍ وريــــده
نو هسې نه چې تــــش څانګو نه يـو ســي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای مهربان دیګونـــدې شات شي آشنا

زمــــاله غزل نه دې لفظونه یـــوســـي

* * *

چـــــې ستا له غیرې یې ګــلـونــه راوړل

مــیـنــه د هغې ځانــګې اوروه کنـــه؟

هسې پــــه خپلــوکې خبـــره کـــوو

سپینه خولګــــــۍ مې باندې پور وه کنه؟

ته په ایمان،د شپـــونکې ورور شپیلۍ یې

دا سرافیل د شپیلــــــۍ ځورو ه کنـــه؟

* * *

رانــه خـــبره اخــوا دې خواشي لـــــږ

ګرانه چې تـــــیــرې خاطرې دې ګورم

زه چې مرغان اورم چـــــې ونـــې ویـــنم

ترپانـــــوډیرې خـــاطــرې دې ګـــورم

هیر به مې ډیــــــروي دومره ډیرهم نه دي

رایادې ، هـــــیرې خـاطـرې دې ګـــورم

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیښور ګرمې به سوی ومه
خوترنم دې د باران را په یاد
دومره ښاغلې دبیلتون هم نه وم
تاکړی په سترګو کې یاران راپه یاد
ډوب لا په وچو کتابو کې نه یم
اوښکې لا پیژنم ګریوان را په یاد

* * *

بیا پسرلی درغځوي لاسونه
بیا د پښو ییلو بنفشو موسم دی
ډک د شبنم کنډول پرسر دغاټول
توره بلبله دنشو موسم دی
برګې رمې کوي تکمیل د ښکلا
وچې شپیلۍ د شنو ورشو موسم دې

* * *

غواړمه دوې لسیزې شاته لاړ شم
ستا د زلمي غرڅه کیسه راواخلم
پری کرونــدی د زړونو کرمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لپو لپو تلوسه راواخلم
داغ د بارو تو شته د ذوق پرلمن
اوس به د مښکو ګلکاسه راواخلم

* * *

ها تور کمر پرسر يې سپينه سپوږمۍ
لکه ډولۍ چې پر تور اس تيروي
دي په رګ رګ کې يې سپين توري راشنه
هره شپه کومې ته الماس تيروي
ته وا چې سر يې پر اسمان لګيږي
د سحر لمر يې پر سر لاس تيروي

* * *

هماغه دی ! هغه غرڅه اوس هم وينم
د هاغه تور کمر پر سر ولاړ دی
ښکر د الماسو يې سپوږمۍ ته رسي
ستر ګو کې ستوري لکه لمر ولاړ دی
ديوه پردي ير غل څرپې يې واوريد
څک څک ، غوږ غوږ ، خنجر خنجر ولاړ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

غرځه نــــشه ،غرځـه دمـیو ډکــــې
څو تنکۍ ځـــانګې دسوما خـــوړلــې
غرځه د شنه ځنګلـــه مـجنـون وګـــڼۍ
غرځه دی « څڼې دلیـــــلا » خـــوړلي*
ځـــنګه غلام شي په ګل ځانګو کې یې
قلمي ګــــوتـــې دبـــادشا خــوړلې

* * *

غــــرځه پریږده په جنوبي ځنکل کـــې
د شــــمال خواته د شمال ســــره ځــم
دبرګ وزرو الــــو تکـــو پـــــر ســر
لــــه یوه زرین مارغه دخیال سره ځــــم
دلـــمر په رنګ ، رنګ سره دانه دبـاران
خورم پـــــه ټالۍ کې زرغون ټال سـره ځم

* * *

لـه سپــیـــن سالنګ نه یې لمر ټول ونیو
لـه روس نــــه دومره الو تکې راغلــې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـوچ پـکې نشـــــته خوله اور نه ډکـې
ګـورئ داو سپنبـــغړکې راغـلــــې
دمـه يې وکـــــړه دبا ګرام پـــــر ډګـر
داپـــه لتېـــون دکومې ورکـې راغـلـه ؟ !

* * *

يــو څــو شيـــن سترګو نا اشنـا وګړو
پـه برګ وزرو کې بـنـزيـن واچـــــول
پــر ځـــــای دزړونو يې پـه لاس دشيطان
سيـنو کې تـــور کانې دکين واچـــول
داور بـمونـــــه يې دلـــپـــــو لاسو
پر دعــا ګانــــو پــــــر اميـن واچول

* * *

دا بـــرګ وزرې پـــــه دوره راوتـــــې
زمـــوږ دکلي پر ســر اور تـــويـــــوي
دا ظــالمان پر ځيکر ولي زلــــميــان
له ځــوان زړونـــو نـه يې زور تويـــوي
پر سپينو ليـچو يې ســــرپـــه ونه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تریــــنه د شنو بنـــــګړیو شور تـــویـــوي

* * *

راغـــلې دوړو شاهـــــینـــانو پـــه شان

سپینـــو کوترو نه یـــې بـــــام اخـــستی

په مـــازدیګر کې یې چــــړې دي ښـخې

زمـــوږ له کلي یې ماښـــــام اخـــستــــی

بـــس په زخمونو یې نما نځلــــــي یو مونږ

رانـــه یې ګـــــرد ســـره آرام اخیـــــستې

* * *

هــغــــه ده درومي د ځنــګل پـــــر لـــور

چې ځـــــوان غرڅه رانه عدم ته یو ســـي

کبــــــاب یې وخوري له شــرابـــو ســـره

ښکر دالـــــما سو یې موزیم ته یـــوســـي

له مســــتو سترګو نه یې رنګ دغورځنګ

دمرګ دتـــــورې شپې تورتم ته یـــوســـي

* * *

غــــــرڅه سرې سترګې پـــاریـــدلې ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر پښو زنځیر د «لیلا څڼې» را تاو ❋

هلته ملا ماتې سوما هم وینمه

تر ملایې سری دوریښم کڼې راتاو

دماتې څانګې لاس یې غاړه کې پروت

تری سورځنډی سپینې مشکونې راتاو

❋ ❋ ❋

دبرګ وزرو الو تکو وزر

دشنو نښترو پر سرونو لګي

یو سیل د سرې او سپنې غشي راځي

دتور کمر په ټټرونو لګي

آه دغرڅه دپښتې خرپ مې واورید

بلې لمبې یې په ښکرونو لګي

❋ ❋ ❋

غرڅه له ډیره درده کړیکه وکړه

درزونه وکړل دکمر ډبرو

دځوان غرڅه کړیکو ته ټینګې نه شوې

منډه اخیستې ده لښکر ډبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژور ګــــــړنګ لــه ازانــګو نه ډک دی
راپنــځولــــی دی مــحشـــــر ډبــرو

* * *

غـــــرڅه دمستې ځوانۍ درد اخيستـــی
کله په پــښــو کله په ســر ګـــډيــږي
په ګډيدونکي نــظـــر هر څـــه ګـوري
ونې ګــډيــږي اوکـــمر ګـډيــږي
پر سر يې بيـــا دبــلا سيـــوري راغـــی
چـــې يــې داوسپنـــې وزر ګـــډيږي

* * *

شـــو نابــره بـــرګ وزرو تـه ځــيــر
داله آســـــمان څنګه پرانګان وريـږي؟ !
پری زنځيرونـــــه راشيوه شين سترګـــي
ته وا کــږې کـــــــږې مــاران وريــږي
خدايه ! ورولـيږه لــه غـــيــبــه درمـــان
جهان دردونه يــې پــر ځــان وريـــــږي

* * *

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شنـــه ځـــنګله په هغه لـري خـــو کـــې
ماته دبر کـــلـي شپـــونکـــې ښـکاري
ټوپـــــک په ننبه او دپړانګ په څـــو کې
داسی پـــــه بريد لکه زمـــری ښـــکاري
ګوره شين ســـــترګونه به ښکار خطا کړي
زړه د تور سترګي کـــــې غورځی ښـکاري

* * *

هـــــه هـــه غورځي له ډيـــره درده کـــوي
له مـلـخـــي ټوپـک يـــې اور وريـــږي
ها سپين زنـــــځير په سرو ګولـيو ولـــي
پر هغو شنو ستـــــرګو هم تور وريـــږي
په ترپ داو سپنې پړانـــــګان تښتـــــي
او پر زخمي غرڅه ټـــکـــــور وريـــږي

* * *

غــــر څه پرکاڼو باندې خـولـه ښخه کړه
په مـــو ملايي پسې کمر څـــيـــــر وي
غـــــر څه د ځـــوان ولي اروا وبـــولئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ښکر د تور کمر تېر څېروي

ته وا ، علي په ځليدونکې توره

ديوه تور کافر ځيګر څېروي

* * *

له تور کمر نه شنه لښتي روان شول

درومي دکلي ترګو دره رسي

په دی اوبو کې مملايي ده ګډه

دژوبلو ژړنو تر پرهره رسي

تکور تکور ژړي پيا تورې په لاس

ځي دجنګونو ترډګره رسي

* * *

د شعر با دشاه ستا حماسي افسانې

تر حقيقت نه هم ځلانده وينم

تر شعر نه شنې ونې دې بُوری مه شه

دزړه دعا په وينو تانده وينم

تل دې سپوږمۍ ستا د ښترو پرسر

دنور په تار کې اويزانده وينم

(c) ketabton.com: The Digital Library

* * *

د تـــــورو لـــــړو پـــــه خلوت کې غلی

په شـنه چـــمن کې لکه پـــیر ناست یې

یـــــار !د سهـــار د خـوب کاروان یې زما

د یــوه رنـــــګین غوندې تعبیر ناست یې

زر ښــــا پیـری مــــې د زړه تخت ګرځوي

پکې بـاد شـــاه پکې وزیــــــر ناست یې

* * *

ته د شعرونو شین هـــمـځولی زمــــــا

د ســــور وزرو بلـــــبــــــلانو کتــــاب

ستاله ګلونـــو نـــه مې رنـــــګ راوړی

ورمې تری خیــــــژي ستا دلیک دځواب

لادې بل باب تـــــه رسیـــــــــدلې نه دی

کاروان طا لب طالـــــب دمینــې دباب

په ښښه شوي:

دښایسته غزل بون محد صدیق پسرلی دغزلونه مجموعه ماته شپیلی. پیاوړی شاعر درویش درانې ، زلمې نازک خیال شار عبد الله پیکار ، پیاوړی کیسه لیکونکې اسد الله غضنفر ، دمستو شعرونو شاعر کلیوال خټک ، ددری ګوتیزې دایرې شاعر شاه سعود ، یوه افغانه سندر ماره چې خوراواز یې افغانستان رایادوي ، زما ایډیال شاعره چې په انساني ښیرو کی مې نه ده لیدلې ، چې دبوی ښکلې اروایې زما دتصویر په ورکه جزیره کې اوسیږي چې حضور یې وخت په وخت په شعرونو کې احسا سوم دلیلا ښې زمونږ په غرونو او ځنګلونو کې یو ډول ځنځیري وابنه دي چې اوبدل شوو کو ښیو ته ورته دي.

د ښاپېری ورغوی　　　　　　　　　　پیر محمد کاروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليونيه سندر ماره

که دګلو څانګه څانګه ، پاڼه پاڼه

په روپۍ روپۍ خرڅيږي

چې روپۍ درسره نه وي

ته به څه کړې ته به څه کړې ؟؟

که بازار کې دمرغيو پیې خرڅيږي

که له غمه وي خوب وړی

لکه سيند چې يو سي مړی

دسهار لمونځ دی قضاوي

په پنجره در ننوتې

دځنګله توره بلبله

په مېنوکه کې سندره

په وزرو کې يې ستوري

او په ستورو کې يې پټه

له سپوږمۍ درته رڼا وي

په منګول کې يې راوړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو تنکې ګل د سوما وي

او دغرونو پر سرونو

زيږی لمر وي څرک وهلی

که له ګل نه ،له غوټې نه ، له ګل پاڼو

لپه نه شي ډکولې

چې يې وشيندي دښکليو پر سرونو

دښاغليو پر سرونو

او د دنګ دنګو ځليو پر سرونو

دا سې وکړه چې داغوړ دې را نژدې کړه

ليونی يمه له راز دې خبرومه

دښاغليو له انداز دې خبرومه

يوه ښکار ته لکه باز دې خبرومه

که ګلان غواړې دغرونو او دګټو پرسرونو

څپلۍ وباسه په يبلو پښو روان شه

داغزيو ، دسکروټو پر سونو

دُعا تويه کړه له لپې

لپه ډکه وړه له ناره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وهه لاره ، وهه لاره

څو د ميني تر تم ځايه ورسيږي

د ښکلا تر لويه خدايه ورسيږي

ها غه پورې خلک وپيژنه دوی دي

چې مې ستر ګو کې د يار کري ګلونه

او به خور ته يې له مونږ نه او ښکې غواړي

د سرو وينو د پرهار کري ګلونه

ورته ګوره داغزو په څير ولاړ دي

دوه درې نه دي ترزرګونو ډير ولاړ دي

ډکه لپه د سکروټو

کړه په پښنو کې ورګوزاره

له نرګسه تر ګلابه

د بلبلو تر چغاره

يوه شنه لاره پيدا کړه

ليونيه سند رماره

پيښور 1999 / 10/12

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند

دنګېدلې يوه تيږه ده له پانه

ده څرګنده ګړندۍ لکه بيانه *

يوه غشي په کمان کې ځان راښکلې

په هوا کې په مستۍ ځي يوه زانه

دسپوږمۍ نغمه په خوله توره بلبله

په مښوکه کې يې تکه سره ګلپانه

کومې نجلې په کې ټال دی اچولی

پر بيا لې باندې ولاړه ده بيکيانه

په اوبو کې منتشر دي دوه تصويره

يوه تا بلو ترې نه نه جوړ کړه ناجانه

انځور ګردي انځورونه پنځولي

پرخه پرخه دژوندون پر هره پانه

* دبيانې اوروانې تيږې تشبيه د يوه عربي شعر تر اغېزلاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

شغ

شغ شــو راغـلــې شـغ شـــو لاړې
پـــولادي بــرګــــې کـــوتـــرې
نــه یـــې زده غـــومبـــر دمـــینـــې
نــه یـــــې رپ وهـــــــې وزرې

***

پـــرې اوښـــانـــو مهـــــارونــــه
تـــــر هـــا پـــورې رغـــزي تللي
داوښبـــه پـــه پښـــو کـــې بیـــا دي
دګـــور ګـــرو اغـــزي تـلـلـــي

***

بیا بـــرګـې پـــه هـــوا ګـــرځـــې
تـــو غنـــدي ولــــي راولـــي
داچــــې پـــاس پکـــې سپــــاره دي
تـــر شیطـــان دي هـــم نـــاولـــي

***

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـــورکــــــې اوښ وهـــې ترپـکې

پـــه لمـبـــو يـــې پـــــټ وري دی

يــو ځـــو ګـزه تــــرې نـــه اخــــوا

غـــــو رځـــيـــــدلـــی کپـــری دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدرګه

ته دستورو شاته پته
له سپوږمۍ نه ډیره لرې
د سحر تورو بلبلو
به راوړې درنه سندرې

***

لکه لمر په غرغره وي
مازدیګر کې مې موندلې
هلالي اوږې په غاړه
په اختر کې مې موندلې

***

له غره کلي ته راغلې
په ګودر کې په خندا شوې
پرک دنیا دې کړه روښانه
لکه سره سپینه رڼا شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

***

کړي دنیا راسره رخه

چې ته ما ته وې راغلې

چاته مه وایه حالونه

چوپ چوپ غلې غلې غلې

***

تا چې ماله راوړې

څو ننداره آئینه وه

ستا په مخ راته هر کاڼی

او د ډبره آئینه وه

***

تا یې کړې بد رګه ده

چې مې اوښکې د ګریوان دي

تا له ما سره ژړلي

ټول د کلي شهیدان دي بدرګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دګل په سیپارو کې

سیـــپـــارو کـــې دګل ،بـــلـبـــلان بلـــبـــلان
وایـــــــي وي دې ودان ، داوطـــن دافـــغـــان

چاته ټیت مه شه ټیټ ، ددې غرونو غرور
دګلونو غونډۍ، سکه خویندې دطـــور

خدایه ته یې شه مل، په پاک روی دحضور
ډیر ښاغلي لرو ، مریـــدان دمنصـــور

داســـرتـــیـــري دعشـــق ، پتنـــګان دایـــمان
دارتـــه ځي په زارزار، یا قـــربان یـــاقربـــان

شپې شوې ډیرې اوږدې، ورک سبا راولئ
باردنـــور قـــافلې ، درنهـــا راولـــئ

دیتـــیم پرخولګۍ ، بیا موسکا راولئ
مهـــا جرې مرغۍ ، بیرته بیا راولـــئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شین بڼکـــي طـــو طیــان، سپیـــن وزري مارغان
تور لوګي چې دجنـــګ، کـړي جـــارو پـــه یـــو آن
خدای به بیا کړي راشنه ،توروشپوکې سپوږمۍ
په ګډا به راځي ، په ځپو کې سپوږمۍ
لپې لپې به ځکو ،په اوبو کې سپوږمۍ
زرغونه به موشي ، په رګو کې سپوږمۍ
دوطن مور مو وړي ، پاس په ســـر شیـــن قـــرآن
مخ پـــه لمـــر یـــو روان، مـــوږ دستـــورو کاروان

/ ۹ / ۱۹۹۹ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

امیل

ګلو رانه ګلو، خو دا ګل کله د باغو
پر مخې مې وار ووه د تیلو ډک څراغو
ډیره غریبي وه زما زړه پسې داغ داغو
شپې دغم اغوستی هغه تور لباس د زاغو
شین شال دې پر سرو آسماني رڼا دې راوړه
سرې جامې په غاړه الواني رڼا دې راوړه
نیمه شپه را پاڅیدم عجبه ننداره وه
لوڅه وه سپوږمۍ په شنو اوبو کې را ښکاره وه
لاړمه ځنګل ته د بلبل سوې ناره وه
نوې یې راخستې د سندرو سیپاره وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ســـر دې نه شـــو ډک مـــې څنـــګانــــه تــــه وو درورې
مات لاس دژوندون مـــې ګریــــوانــــه تــــه وو درورې

ماتــه و په غیږ کې عجب جهــان راغلـــی
کشف و راته شوی لکه ورک جانان راغلـی
« تا » یې وکړه زړه ته و ماشوم ایمان راغلی
ژبه مې خوږه وه پرې شیرین بین راغلـــی

تــــه پــــه څپــو راغـلـــی پــه سندرو کې دې ډوب کــــړم
سرو سپینـــو مهینـــو مـرغـلـرو کــې دې ډوب کـــــړم

پیــــر مې یې پاچا مې یې لا سونه به دې ښکل کړم
ګام په ګام دسترګو برګ اسـون به دې ښـــکل کړم
اوښکې به دې ښکل کړم ، الما سونه به دې ښکل کړم
راوړه دنـــرګســـو ګیلا ســـونه به دې ښـــکل کړم

داســــې مــــې خمــار کـــړه چـــې سرخیــــل شـــم دمستــــانــــو
پـــــانـــــې پــانــــې ګــل شمــه امیـــل شـــم دمستــــانـــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سین ته دې ګوزار کړم که ویالې ته دې ګوزار کړم

ګـــوره مې چې ځان ځنګه له تږې ګل نه زار کړم

مینـــه مینه مینه یم د ښکلي یـــار دې یـــار کړم

تار دې په تسبو کـــې کړمه تار دې دستار کړم

کلـــه الا هـــو وایـــمـــه کلـــه زمـــزمـــې بـــه

کلـــه بـــه تسبـــې اړوم کلـــه هـــم نغمـــې بـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کا وا که رڼا يي

ګوره ! راروان دي راغي ځغلنده مشال دی
ستوری ، ته واغشی سور په وينو دغزال دی
شپه ده نيمه شپه ده ، د ښامار په خوله کې لال دی
پړک وهي ديار په سينه تڼده شينکې خال دی
شنې لمبې له جام خيژي کا وا که رڼا يي ده
ريږدمه له ډاره خطرناکه رڼا يي ده
ستورو را په ګوته کړې مستورې بلګانې
تورې تورې ونې لکه تورې بلا ګانې
شا ته يې ولاړې نورې نورې بلا ګانې
راغلې را پسې ادکې مورې بلا ګانې
هاغه ده سپوږمۍ رانه په منډه شوه روانه
سر به بيا راوباسي دوريځو له ګريوانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټپ شي ټپ شي ټکی ټکی پر خه پر ګلپاڼو
کله کله سوې قلقله راشي د زاڼو
باد هم یاغي آس دی خرپ یې وایستو د کاڼو
کله په دره کې ششني وکاندي د بیاڼو
شغ شو ، شو پرک مې د بڼو په خواکې تیر شو
نوی مې نظر شو هغه زوړ نظر مې هیر شو
څه ګورم ، دګل پښو ته پرته رامه نجلۍ وه
سپینه را پریوتې له شینکي بامه نجلۍ وه
دابې شرمه لو څه ښه پوره خامه نجلۍ وه
خټ خټ به خندا وه مسته بې جامه نجلۍ وه
ورغلم نجلۍ نا ، درنو اوبو چینه وه
ومې ښبله یخه لکه زر ځله کینه وه
بره له ابشارهراروانې دي سندرې
ښکته په ګډادي ورته لمنځي اونښترې
ویښې دي غوړ غوړ دي او غړ نه کوي ډبرې
جوړ غمي د پرخو دي د شپې توري زرګرې
شپه ګوره شاعره شهکاري کوي لګیاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن خو دې ليدلې په رڼو سترګو رويا ده
لپې لپې وينې تويې تکې تکې پې دي
پړانګ ته ګوره پښو لاندې يې سرې د ګل غوټۍ دي
واوره په ځنګل کې د کبلو سوې سلګۍ دي
ښخ په هاغه پرښه کې ښکرونه د هوسۍ دي
وګوره جلال ته د جمال په وينو پايي
دلته هر زوال بس د کمال په وينو پايي

۲ / ۷ / ۲۰۰۰ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اروانباد اسحاق ننګيال په ياد کې

غزل

يو شرنګ شو چې د شنو ما تو بنګړيو ســــــــره ولاړ
يو ورور مــې و مــيــن شـــو ښـا پيـريو سره ولاړه

يو ځـوان غم يې را پرېښود چې سپين ږيرى به مې کړي
ما شوم شو او د ستورو د ګـــوډيـــو ســـره ولاړ

سهار زمونږ بهير ته و راغـــلی يـــک تـــنـهـا
ما ښام له ډېرو ډېرو ډيوه ګـــيو ســــــــره ولاړل

زيړ ګل و د ګلابو ، په سره اورکـــې و راشـــيــن
باران ته تـــږی تـــږی وُ ږلـــيو ســـره ولاړ

زرين کبان يې ونيول د ميني په چـــنـــګـــــک
ساقي شو د شـــرابـــو لـــه کشتيو سره ولاړ

رباب وً د چندنو مست په مستو ټـــپو مســـــت
شرنګا يې شوه راپاتې له ځـــونـــډيو ســـره ولاړ

سوما زمونږ د غره و خــو ډېـــر ژر دابـــديـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library

له چتو چتو پېغلو جينکـــــيـــو ســـــــره ولاړ

فقير و خو چې رام يې کړ سپين آس د بادشـــــاهـی

د شعر داوو خويندو شهزادګيــــــو ســـــــره ولاړ

يو شين زرغون طوطي و خو حيران يــــمه پــــه دې

په سپل کې د جنـــت له توتکـــــيـــو ســـــره ولاړ

مړه شوي ګړنګونه يـــــې ژونـــــدي پــــه ازانګو

شپونکی آشنا مې ورک شو ل شپېلـــــيو ســـره ولاړ

کاروان د سرو غاټولو يې وځان پـــــسې راتـــــول

ننګيال په بدرګه کې له غـــتـــيـــو ســـــره ولاړ

۱۹۹۹۸/۵/۷/پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لته د یاقوتو چینه

دلته په دي خاورو کي دستورو ډک أسمان ويده

دلته مو (ساهو) جانان دي دلته مو)) امان)) ويده

مونږ د ب تصويره يو ،بي لمر د يو

دلته دهندارو غوندي ځلنده انسان ويده

مروله تندي مرو ،سترګي پرکوم ښکلي خوږي کاندو

دلته د ((یاقوتو چینه)) لال دبدخشان ويده

دلته دوطن دغرونو شين طوطي دمه کوي

دلته دچندڼوونه دلته ارغوان ويده

اوښکي د ليلا يې دسندرو توري توري دي

دلته مينه مينه د مجنون خيري ګريوان ويده

دلته به په زړه ګورئ دانوري سترګي کارنه کا

دلته درمزونو درازونو يو جهان ويده

ښکاري مرور دی هغه ورور هغه شاعر زما

دلته دوطن د((پسرلي ((ښکلي ارمان ويده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډک زمونږ دزړونه دي تشېږي نه رودونه دي

دلته ټپه ټپه ده غزل ويده رمان ويده

پام کوه سلام کوه نيسمه چي ګستاخ نه شي

دلته يو عيار ويده يو ځوان مرد ميدان ويده

ده هم پنجه نرمه کړه دوخت له بل مغل سره

دلته يو سر تيری سپاهي دخوشال خان ويده

ستړي ستړي راغي درحمان غيږ کي يې سر کېښود

دلته دکندز دسرو غا ټول بيا بان ويده

(c) ketabton.com: The Digital Library

اروا ښاد حاجي صيب دولت زي ته !

مضطرب يو نن سکون له مونږ نه ورک دی

يو شيرين سړی پرون له مونږ نه ورک دی

چې پرې ستړيو لارويو به ســـر کيښــود

د بهير هغـه ځنګون له مونـــږ نه ورک دی

هر يو توری يې ترا وښکو نــــه هـــم رون و

د خوږې مينې مضمون له مونږ نه ورک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما بیګاه لیدلې خوب و

ما بیګا لیدلې خوب و

چې شپه را شي او بیګاه شي

بیلتون برید را باندې وکړي

او له غیږ مې یار یوسي

مرغلرې تار په تار شي

له امیل نه مې تار یو سي

***

ما بیګاه لیدلې خوب و

څوک له مانه قمار یوسي

غلچکې په منډه منډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور څنډې له ستاريو سي

په ورغوي کې مې لال وي

رانه دا هم ښاماريو سي

***

ما بيګاه ليدلې خوب و

چې سيلاب راشي ښاريو سي

دګودر له جينکو نه

دمنګيو کتاريو سي

شين لوګي له کلي خيژي

اور په غيږ کې چناريو سي

***

زه سهار له خوبه ويښ يم

چې خوب راشي دلداريو سي

دبهير له څونې غيږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو سپين ږيرې سردار يو سي

دى دژوند له مرغلرو

دمرګ پيغلې ته هار يوسي

***

لمدې ستر ګې زړه داغلى

نن سهار له خوبه ويښيم

ته وا ، ښه ږلى وهلى

لاله زار له خوبه ويښ يم

11 / 4 / 2000

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم

غم دې زما په اوښکو څکه وکړه

پر دې ایمان لرمه

نمک حرامه نه دی

کله یې هم چې لاس ور ور رسیږي

ستا د خندا ګلاب ته

له ما یې نه دریغوي رابه یې وړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوعا

زه چې سره ګلاب ته ګورم

دزړه تنده مې شې ماته

بې اختیاره دوعا وکړم

کله ګل ته کله تاته.

خدای دې ډېر لري ګلونه

خدای دې نه کړي چې راشنه شي

ستا په سترګو کې ګلونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

امتزاج

څه ګلاب ګلاب ملګري دې راکړي

زما زړه په ګلابونو کې نغښتې

بلبلک دی بلبلک دی

پرې باران د ګلابي نغمو را وُري

زه به ولې ګیله من یم

که یو څوک دې هم راکړي

د ښمنان لکه اغزي دي

څه دنیا خونه ورانیږي

که همدا په ګلابو نو

کې نغښتې بلبلک دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داغزو په لښته ووهي او شغ شي

سور په وينو اواز وکړي

د دردونو په وزرونو پرواز وکړي

پاڼې پاڼې ګلابونه ترې خواره شي

او رنځې رنځې اوبه يې په سر واخلي

ما خوږې خوږې نغمې له تانه غوښتې

ما په وينو سرې نغمې له تانه غوښتې

تا هم راکړې زما ربه !

د ګلاب او داغزي له امتزاجه

د دښمن او د دوستانو له مزاجه

ستا د دومره ستر احسان ډيره مننه

۲۱/۸/۲۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګل او بنیادم

دګل خوراک خاورې، ایرې او سره

لړې رڼې او ډیرې خړې اوبه

بیا هم سپیڅلې دی، ښایسته دی، له وړمو ډک دی

سترګې او زړونه پرې خواږه شي له رنګونو ډک دی

خو ، بنیادم چې پریښتو ورته تندی ایښی دی

ګل ته ورګورې او تر اوښکو نه رڼې اوبه څښي

له تکو سرو منهو نه خرپ وباسي

حیران په دې یم ، دا بدرنګ ولې شي

۲۰۰۰/۸/ ۲۲ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پښې يېلې وهم منډې پروت مې غاړه کې پټکی دی
ځاروان مې نارې ناورې ځي کاروان يې ګړندی دی

منګول يې پر لمن کېږدو جوړه زه او جانان مې
تر منځه مو يو خدای دی دې خوازه يم اخوا دی دی

ګلونو مې پر سترګو دېر غل تړلې نيت دی
ما خپل دزړه په وينو لمبولی پسرلی دی

د پټ ضمير په باغ کې مې ستا مخ ته مخامخ يم
چې ستا دمخ په مخ راته هنداره هرکو دی

رباب يې کړه مطربه چې په ترنګ يې ستوري ګډ شي
داژوند مې دغمونو لمر وهلې وچ لرګی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زړه نه اوښکو ورشئ له ښکاري نښه خطـــا کــړئ

لینده په لاس را کاږي د کبلي په خوله کــې تــی دی

چې هر یو کلیوال یــې پســې غشـــي دي راخیستـي

شاعر یې غرڅنې دی که غـــزل یې غر څـنـــې دی؟؟

بس ستا د بنګړو شرنګ با نـــدې کوي تول د سندرو

په خدا که بــه کاروان دې پوی په سُر دی یا په لی دی

نریزې تنې داوم ژور دغره لوړه څوکه

۱۷ سنبله ۱۳۷۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د شپې چو پټيا ديوالي ګړې ټک ټک ماتــوي
او که زرګــر غمــې د عمــر په ځټــک ماتوي

ستــا پــر تنکيو پښو مين دی ته خبر هم نه يې
چــې په تنهــا کو لا ســو کانې د سرک ماتــوي

ښايي د ښکليو تور بانه دي له الماســو راشنــه
سپينې هنداري چې د زړونو په سترګک ماتوي

دا سې سيلۍ له ستوني ونيسئ چې ګام وانخلي
ځلور ګلونه چې په هر يــوه ځپــک ماتــوي

مسته غزاله د غزل ، د بيــا بــان کاروانــه
کړه را پيــدا چــې د نقــاد زمرې د شک ماتوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

لەزړە نەراشي لکەسـور دوینـو خـال څـاڅـي
لەسـوري لاس نـەمـې دسپینې سولې سوال څاڅي

خـدایەدا بیـا یـې دەدکوم ستوري مرۍ پرې کړې ؟!
چې یو شفق وینې لـەتُـورې دهـلال څـا څـي

ها غلتەلرې دښېتر پـەتـن کـې غـشی ښـخ دی
ها غلتەلرې تـودې وینـې لـەغـزال څـاڅـي

نن یې دي پاکې دنرګس ډکـې یتیمـې لـیمـې
شبنم داو ښکو لەلستـوڼـي دشـمـال څـاڅـي

دخوږ اشنا اوښکې مې ښکل کړې هک پک پاتې شومە
تروە سرکەڅنګەدشـاتـو لـە دیـوال څـاڅـي؟!

دنري تـار پەصـراط ورمـەګنهکارې نـغـمـې
پـەهـر قدم کې رانەسُر تـوئیـږي تال څـاڅـي

خاورین جهان کړ راتە چا رنـګین ښـکـی طاووس؟
څوک مې پەسترګو کې کاروانەزرغون تال څـا څـي؟

۱۹۹۵/۱۱/۷ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نــه رانـــه ازر خوشحـــاله نـــه زوی دازردی
نه مې بت جوړ کړی نه مې غوځ دبـــت وزردی

خوب مې تښتيدلې که په لاس درغی رایـې وړه
ماته چا ويل چې پر خوبـونـــو دې لاس بـــر دی

ځم چې له لفظـــو نو نه دشا تو مچۍ جوړې کړم
چـــا وې ژړيدلېی دلته ګل دپـــيغـــمبـــر دی

بس دزړه په مراندو څو ملا ماتي لغات وتـــړم
ګرانه ! شاعري څه ده ؟ اسان غو ندې هنـــر دی

لپه لاس مې ونيـــول ســـاقي کرم به ډير کوی
تـــاتـــه دې دعا شي خو همدا زمـا ساغر دی

ګوره چې کاروان دبلـــبلانـــو درتـــه راولـــي
راغی له ځنګل نه ، دګلـــونـــو جـــادو ګر دی

۱۹۹۹ / ۶ / ۱۳ پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ټول مرور دي نوم د کوم يوه په جـــام وليکم؟
په دروازه چـــاتـــه سلام وليکم؟ د ميخانې

پرځای د باز بڼکه به قلم کـــــړمه د غشـــي
به کوتـــــرو تــه د بام وليکم مضمون د مينې

ګلاب خـــو ستا د سترګو په خاطر زړه ماتوم د
نـرګس ورته امام وليکم صف شي چې ګلان دې

راکړی قـــــلم ډاډ د غشي جـوړېدلـو دا چې
ګل اندام وليکم په وينو بـــه داستـــان د ديو د

ټک لکه لړم راکوي زړه ته څوک خو شته چې يو
ورو -ورو په آرام وليکم د زهرو ذکر به يـــــې

" کاروانه " ! نه يې مني خو به خامخا وي پکې
که د غزل هره مـــــــــصره لکه خيام وليکم

پېښور ۱۳ / ۶ / ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زمولـــي رانه دتــــاندو غـــزلـــونـــو کتابونـــه
بادونه بې ســـواده دګلـــونـــو کتـــا بـــونـــه

سپوږمۍ زموږ دکلي درښو ستـــورو استـــاذه
اوبو غوندې روان وايي دغرونـــو کتـــابـــونـــه

ستا سترګې شاګرداني له تنـــبلو نـــه تنبـــلـــې
لوستـــي نه شـــي دسوو لـــوو زړونو کتابـــونه

چې ستا وروزو ښو ته مخامخ شو ترينه هير شول
په ياد يې وو دغشو کمانـــونـــو کتـــابـــونـــه

يو څوک لکه چينجې دربا بي څانګو رګ رګ کـــې
يو څوک رانه سيزي دچنـــارونـــو کتـــابـــونـــه

يو څه الفبا خو يـــې ظا لمـــې زمـــزمـــه کـــړه
چې نغاړي پـــه مـــو ســـکا کې درازونو کتا بونه

غـــزلې دزلمو بـــه څنـــګه وکـــړي غـــزونـــې؟!
کاروانـــه چـــې خپـــاره نـــه شـــي دنجونو کتابونه

۱۵ / ۶ / ۱۹۹۹ پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ستا دتورو سترګو څنګ ته را لويـــدلـی

لپې لپې دلفظو نـــو مـــې تـــرې ډکـــې

د شپيلۍ غږ وګــړنـــګ ته را لويـــدلی

دتندي خال مې پـــه ژبه ترينه وا خيـست

بختو ر مې دزړه زنګ تـــه را لـــويـدلی

سره لمبه. سپيـــنې جامې مـــابه او کـــړې

لمر ، دواورو ډک سالنـــګ ته رالويـــدلی

ما په خوب ليده چې پروت يې و په پښو کې

د پـاچـا سر و ملـــنګ تـــه را لـــويدلـــی

له کاروان غـــريـــب نه سُر دغـــزل ورک دی

ستا دشنو بنګړو يو شـرنګ ته را لويـــدلـــی

غرنې نظر مې جنګ ته را لـــويـــدلـــی

۲۸/۶/۱۹۹۹ پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې ترانو راپسې درستو اقتدا کړې ده
ماته دکلي دګودرجنو دعا کړې ده

خود به لفظونو ته دسرو زرو اوبه ورکوم
ما پیروي ستا دلاسونو دکیمیا کړې ده

زما په سرکې پیغلې ګرځي دلرغوني زمان
دلته سپوږمۍ رڼا پر څانګو دسوما کړې ده

حق دی چې مونږ یې دزمریو پر څرمن ولیکو
دپښتنو ټپو سیالي داوستا کړې ده

په دوو کې هک پک یم له کومې غاړې لاس را تاو لړم؟
دا قهقهه راته ساقي او که مینا کړې ده

دتار پري کړي کاغذ باد په شان چې هر چا ونیو
دهغه خپل شو ، خپل زړګي رانه هوا کړې ده

چې څوک یې نه مني هو ښیار به وي مستان خو نه دي
کنه کاروانه په غزل کې دې بلا کړې ده

۲۸/۶/۱۹۹۹ تنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ریاضت مې لا هم هغسې روان دی
هغه ښکلی په خدای اوس هم راته ګران دی

غم دې غل دی پسې غلی غلی راغلم
پروت په زړه کې مې غمی ستا د پیزوان دی

ته راشنه شې په سره شال په شنه لباس کې
شین طاووس په سر کې ناست دارغوان دی

یوه شپه په بدرګه د ستورو راشه
ما دې نوم دورځې زر ځله ګردان دی

څلور قله مې پر ځای چُف دي راګوره
ختم کړی مې په تا پسې قرآن دی

ستا کاروان دې خدای د ګل غیږې ته یوسي
لکه پرخه له اغزو نه اویزان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مونږ دوه دیــو کیدلو په تکل کــې سره ناست وو
باران را وریــدلــو په ځنګل کــې سره ناســـت وو
دخدای لــه تــرنــم ځنــې مــو غیــږې ډکــولــې
نغـمـــې مـو ښکلــولې په غزل کې سره ناست وو
له ډیـــرې خوشحالې مو شپه په اوښکو بدرکه کړه
بلا اور اورکې وو په ځل ځل کې ســـره نا ســـت وو
موسکې موســـکې ترسترګو پورې هم تللو راتلــلو
خوارږه د درزیدلو زړونو تل کې ســـره نـــا ســـت وو
شکست وو او که سوبه زمونږ دواړو په نصیب شوه
دمینې دجنګ لوبه وه مورچل کې ســـره نا ســـت وو
جــــرس نــــه و قـــمـــري دکـوکوګو نارې وهلې
کاروانه لاروي وو په منزل کې ســـره نا ســـــت وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کلـــي تــه بــه درشمه او پاس به غـــره ته وخيـــژو
ځنګ تر ځنګ به ګرځو لاس په لاس به غـره ته وخيژو

شنـــې درې که ډيـــرې هـــم له سپينو او بـو ډکې دي
ځــو به پــکې ځـــو بـه پــه سره آس په غره ته وخيژو

دوه په دوه به ورک په تور ځنګل کې شو په سپينه ورځ
شپه شوه لکه ستوري د الماس بـــه غـــره تـــه وخيـــژو

ژوند ديوې ګرځندې او مستې ميـــکـــدې نـــوم دی
ځه سره له خم او له ګيـــلاس بـــه غـــره تـــه وخيـــژو

ځـــه چـــې ځـــو دمينـــې دګلـــونو له کـــاروان سره
پاک له انديښنو او له وسواس به غـــره تـــه وخيـــژو

دعاشورا ورځ پيښور ۱۳۷۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بې سپوږمۍ یم د یوې تورې شپې په شان یم
ستا تـــر زلفــو هـــم زر ځله پریشان یم

له باران اوښکو مې شنې زرغو نې شنې شوې
لمر ویشتلې هم دوړانـــګو په کمـــان یـــم

ســـور وزری د زړګــــي بـلبـل مې ورک دی
لکه ړدن دانـــه دانــه تیت و پـــاشـــان یـــم

مجال نشتــــه چـــې زرینـــه هوسۍ راشي
دیـــوه وران کـــمـــر د ډډې ارغـــوان یـــم

و دې کـــور تـــه د پـــاچـــا دراتګ وخت دی
اوښکې اوښکـــې له خپـــل زړه نه راروان یم

داچــــې یـــم دشـــهادت په لـمانځه پایم
لنډه داچـــې لکه وران افغـــا نستـــان یم

ته وا مـــا نـــه یـــې وژلـــي سل اوښان دي
دمنـــزل دنیمې لارې لـــوټ کـــاروان یـــم

۱۶ / ۵ / ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پاڅه له خوب نه خوب دې ډير شه د خبرو وخت دی
تا وان به وکړې ګرانه ګران تر مرغلرو وخت دی

دوی په چنډن کې دي خوړلي د مارانو زهر
د شين بڼکو شنو طوطيانو د شکرو وخت دی

د سهار لمانځه ته داذان پر ځای په غاړو پاڅو
زمونږ په غرونو کې د زرکو د تنځرو وخت دی

ګيډۍ دې ږدم د اوښ په بار کې پسې پلي به ځو
بيا د برو ځو د سرګړو د مزرو وخت دی

ځم جوړوم په کليوال جانان ټوکرۍ د نظر
د تورو سترګو په تورغر کې د ګورګرو وخت دی

چې شومه دم شي شپه پخه شي او ويده شي خلک
کاروان دې اوري کنه دايې د سندرو وخت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

اوریـــدې مــې هـــر ســهــار تـــورې بـلـبـــلې

ستـــرګـــې ستـــا پـــه نغمو بـــار تـورې بلبلې

خدایه !ژوند مې شین ځنګل دچور کوندې کړې

پـــــه کـــې ګـــډې پـــه چـــغار تـــورې بـلبلې

اغـــزن وخت ګل ته دغـــاړې غـــړونـــــدی و

چـــغـــیـــدلـــې چـــې پـــه دار تـــورې بـلبلـــې

دنرګـــس دغم رانـــجـــه یـــې دي خـــوړلـــې

چـــې چـــوپ چـــوپ دي دچنـــار تورې بلبلې

رالیـــږلـــې ، چـــې کاروان غـــزل کـــړې

دســـنـــدرو اُستـــــکار تـــورې بـلـــبـــلې

۱۹۹۹ / ۱۱ / ۱۴ نریزي کلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کـــله لـــرې میـــکدې ته ، کـــله بـــرې میکـــدې تـــه
هغـــه رنـــد یمـــه چـــې د رومـــم، هـــرې هرې میکدې ته
هـــغـــه جـــام زمـــا مراد دی، چې جانان یې راپه یاد دی
دثـــواب لپـــاره راغـــلـــم ، ستـــا کافـــرې میـــکدې تـــه
شپـــه شـــوه شنو لمبو اغوستې ، دشیشو نازک لباس دی
شیـــخه پام کـــوه رانه وړې، بیـــا ډبـــرې میـــکدې تـــه
تیر وتم دیار په سترګو ، کـــله بـــاز کـــله شاهیـــن شـــي
ماوې راغلې له جومات نه ، بـــرګ وزرې میـــــکدې تـــه
له باران دې غیرت ډکه، ساقـــي راشـــــه چې ګل ګل شـــي
دغـــو تږیـــو ډیـــرې راغـــــلې ، بیا لښـــکرې میکدې ته
دکاروان زړه دې مات مات کا ، چې مینا ته غمي جوړ شي
خـــامـــخا که چیـــرته راغلې ، څوک زرګرې میکدې ته

۱۹۹۹ / ۲ / ۱۹ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د غرونو خلک یو کارونه د بازار نه کوو
شډل پډل ګرځو هیڅ ډول او سینګار نه کوو

د خدای مارغان راځي نغمې د ملکوت غږوي
مطرب ته اړ نه یو او ذکر د ستار نه کوو

د سر قاتل ته هم سلام کوو سلام یې اخلو
ولو یې مخامخ له شانه پرې ګوزار نه کوو

په ستن کې تار شو اچلوی د سپوږمۍ په رڼا
ځراغ کې تېل نه سیزو دا د تاوان کار نه کوو

له پړانګ ځرمنه اړوو چې لنګې غواوې داړي
پر ځانګې ناستې مرغکۍ د کاڼي وار نه کوو

بې خونده نه یو په خوږه په ترخه ښه پوهیږو
خورو یې پر هیز له خوږو شاتو د کو کنار نه کوو

زلفې خو زلفې دي چې لاس پرې وهو خوند راکوي
پر پراته پړي هم ګومان د ژوندي مار نه کوو

په نیمه ورځ ترینه راګرځو نه چې ورک شو پکې
پکې اشنا مو نه شته ځکه شپه په ښار نه کوو

د نګې ښکلا سره د مینې مزې بیا غځوو
ګرانه کاروانه بس خبرې په چنار نه کوو

پېښور ۲۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چې هر طرف ته ځم زما تـــګلـــوری تـــه یـــې تـــه یـــې

که شپې شوې هم په لویشته لو یشته ستوری ته یې ته یې

قربان له ګستاخۍ مې راتـــه ډیـــریـــې ښایستـــه کـړې

زه نیغ په نیغ در ګورمه کوږ ګـوري تـــه یـــې تـــه یـــې

یـــو څـاڅکې د شبنـــم یـــمه دلـــمر لـــه ډاره غـــلـــی

ژوندی اوسې د سرو ګلونو سیـوری تـــه یـــې تـــه یـــې

دنـــجـــونـــوکـــه درپـــام شـــو نو امیل ته به دې یوسي

ځـــلانـــده د کاروان د غـــزل تـــوری تـــه یـــې تـــه یـــې

۲۰۰۰ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ستا وحشي ښکلا به ټول جنګي آسونه رام کړي

سل زره لښکر به د کفارو په سلام کړي

تش منګي به ډک شي د رحمت له شرابونو

راغی ، باراني ساقي به سرې منګولې جام کړي

ستا عقا يي سترګې به يې ګډې په هوا کړي

سل زره کوترې که راغونډې ښوک پر بام کړي

زر اور اورکي د هرغا ټول په تش کنډول کې

کينوه جانانه چې ډيوه ډيوه ما ښام کړي

ښکليه چې پر سپينه ټنډه وغزوې کونځې

شرنګ شي مريدان دې تورې لرې له نيام کړي

زړه په صبر و ساته يو ښکلی خو به راشي

هسې نه چې غم يې د دنيا درنه تمام کړي

مستې صوفيانه سندرې مه وايه «کاروانه»

ګوره په اتڼ او په ګډا به خاص و عام کړي

۲۰۰۰ / ۵ / ۱۵ د نريزې کلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ستا خبرې لکه تاندې مرغلرې
وایه ډیرې مې درباندې مرغلرې

دوطن د پیغلو غاړې دې بې هاره
تر بڼو یې اویزاندې مرغلرې

پرغوټۍ شونډو دې ګل دخندا غوړم
دعاګانې مې ځلاندې مرغلرې

لمبو زنه ترسر تیر شه که یې غواړې
دڅپو تر پښو دې لاندې مرغلرې

څوک دلمر ماښو ساحل ته راوتلي
دریابونه څپ څپاندې مرغلرې

په غربت کې دې شاعره غنا نغښتې
ستا سندرې او ستا ساندې مرغلرې

پرګودر دکیمیاګروکاروان راغی
شنې ویالې به شي بهاندې مرغلرې

خوست دنریزې کلي ۲۰۰۰ / ۵ / ۱۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نیمه شپـــه ده ویښ یم له یو چا سره غرېږم
بیا مې د سندرو له پـــا چـــا ســـره غرېـــږم

نا ست یم په خلوت کې یو ملنګ د زمانې یم
غـــلی غـــلی غـــلی له غـــو غا سره غرېږم

نن مې درته ډېرې زارۍ وکړې خو رانغلـــې
مـــه راځـــه ، سبا بـــه زه له تـــا ســـره غرېږم

خدای چې راکړه برخه د ښار یاره مه کړه رخه
خوار غریب او ښبـــه یم له ښکلا سره غرېږم

لاس مې په ځنځیـــر تړلي پښې په زولنو دي
ستـــا د شنو بنـــګړیو له شـــرنګا سره غرېږم

لاړ شم درمندونـــه وي ځـــوانـــان وي اتڼو نه
ډول ســـره غـــرېـــږم لـــه سُرنا سره غرېږم

کټ کټ له خندا نه درته شنـــه شـــمه کاروانه
جام یمه زه جام یمـــه مینـــا ســـره غـــرېـــږم

۲۰۰۰/ ۵ / ۲۳ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د کلي غنم رنګ شهید ته

غزل

وطن داور په سیند کې لامبې زلمي جنګ خوړلي
د کابل جان د نجونو مړې هم نهنګ خوړلي

غچ د شهیدې لیلا واخله منجور مجنونه
د ګور چینجو هم ترې ځونډې ځونډې لونګ خوړلي

زما یاران ګورئ د ګل روانې ونې ښکاري
چا پر ټټر غشي ټومبلي چا پر څنګ خوړلي

نن خو د سپینو تورو خرپ ته په میدان ولاړ وو
هغه پرون چې وو د شنو بنګړیو شرنګ خوړلي

تاندې نغمې د سریندې له وچ لرګي وروه
نتلي زړونه مو مطربه خدایږو زنګ خوړلي

هغه لشې لشې بانه د اشنا نشته نشته
د مرګي ژرندې و مرې ډیر دې غنمرنګ خوړلي

غزل یې وانه ورې چې عقل به دې وتمبوي
دې لیوني کاروان دی لپې لپې بنګ خوړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کــله دا ، او کــله دا راکـــوي يـــار

عجيبه خـوف و رجـا راکــوي يـــار

کـــه دلمر غوندې دغره شاته پټ هم شي

پـــر سپـــوږمۍ واوړي رڼا کــوي يـــار

چې دستورو په تسبو مې شپې رڼـې کړې

سپينــــه خـــولــــه به خا مخا راکوي يار

دڅپې غوندې له غيږې نه مې تښتـــــي

ددرياب غوندې غـــوغــا راکـــوي يـــار

سلامــت دې وي ساقي مې دی ورجارشم

که بــه زهــر که ســومــا را کـــوي يـــار

لپـــې لپـــې راته ژاړي چـــې مــــې وژني

مـــرغـــلـــرې خــــون بهـــا را کوي يار

دکـــاروان مستـــه غـــزلــه دروری شم

ځـــه پـــه مينه مينـــه تـــا راکـــوي يـــار

پيښور ۵ / ۵ / ۱۹۹۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ستوري خاندي ستوري ژاړي خبــر نـــه يـــم؟

دوې راځي ؟ که مـا ور غـــواړي خبـــر نه يم؟

ورځې شپې دي برګې سترګې ؟ که پړانګانــې؟

راته موسکا ؟ که مې داړي خبـــر نـــه يــم ؟

چې زما دزړه دجــــام شــراب يـــې نوش دي

پښيمـــان دي ؟او که ويـــاړي خبـــر نه يم ؟

زما زړه ماتوي دوی به چيـــرتـــه اوســـي ؟

داغمونه کور ويجـــاړي خبـــر نـــه يــــم ؟

دامهين غزل به څـــوک وايـــي کــــاروانه ؟

بلبلان ؟که سندرغـــاړي خبـــر نـــه يــــم ؟

شنبه ۱۹۹۹/۵/۵ پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ولې راته وايې چې لړ.وار کوه وار څه معنی ؟
کار د مينې کار دی له دې کار نه انکار څه معنی ؟

ليچې په لاس راکړه چې ولول څنې خورې وي پرې
شرنګ د بنګړو خوند کوي تش تار د ستار څه معنی ؟

وايه دژوند د فلسفې شاګرده وايه
سر په اوږو څه معنی او سر وي په دار څه معنی ؟

غاړه کې مې لاس يوسه چې حس لري او روح لري
مړې مړې مرغلرې وړې پيلې په تار څه معنی ؟

خلک پکې خدای لټوي ته ما شوم خبر هم نا
پوی به شې او لوی به شې چې سترګې ديار څه معنی ؟

دا غريب سړی ګورئ له غرونو پرون راغی ،نن
دومره جګ برجونه د سندرو د ښار څه معنی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښــایــي چــې له دې ښاغلي لویه ښکلا ورکه ده

دومره دښــکلا په لټون سترګې په لار څه معنی ؟

لاس دښکاري څه وایي ؟او زړه دغرځې حه وایي

غوارمه یوه معنی لا لیه چې ښکار څه معنــــی ؟

چوپ شمه که ووایم چې دنــګه یاره تــا ښــیم

خلک راته وایي چې « کاروانه » چنار څه معنــی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پکـــې راتــول مو دي تنکي تنکي الماس درنها

مــونږه تل وړی دی په دواړو سترګو پاس درنها

شپــه څه بلا ده ، دوصال مخه نیولـــې نه شي

ستـــوری وستـــوري ته ور وغځوي لاس درنها

دڅیـــړې ځانـــګو کـــې به تورې بلبلکې اورو

پـــه تورو غـــرونو کې به تل ګرځو په آس درنها

دشپو په څو ، کې شپه پلوي شول یر غل ته تیار

ستـــرګې ور وبـــریښـــوه واغونده لباس درنها

ستا دکاروان په مخ کې بیا دتیارو زور ولاړ دی

ساقي تر مورګو پـــورې ډک راوړه ګیلاس درنها

۱۲/۷/۲۰۰۰ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

کلی لرو غر لرو دستورو ډک اسمان لرو

شین دبو ډې ټال ګوره نرې نرې باران لرو

ښکلیه لاس راوا چوه تش لاسي یو بې برخې یو

روغ یو لیوني موکړه تنۍ لرو ګریوان لرو

راشه او ځولۍ دګلابونو پکې وشینده

مونږه هم خبرې درښو اوبو په شان لرو

داسې نه ده هم چې ګني وخت له ورکوو دیکه

زړونه لرو ، مینه کوو ، ښه ښکلی جانان لرو

رابه شي ، پاچا به شي زمونږ دملنګۍ په زور

خدای لرو ، رسول لرو ، وطن لرو قرآن لرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نه دچا اتل یمه او نه دچا ایډیال یمه
یو غریب شاعر یمه او یو غریب لیکوال یمه

وخت و ، چې نړېدې له تندې مړوې ما ډک جام درکړ
نه به یم ساقي خو دهماغه جام کُلال یمه

سرې او ښکې دبُورې هوسۍ شنو اوبو کې ګورمه
ناست یم تر چنار لاندې نه قطب نه ابدال یمه

زړه مې پاس دزانې په وزر پورې تړلې دی
پام کوه ، دغشو واله ! زه هم دچا خیال یمه

خدای که مهربان شي ګوندې سره ګلونه شنه کړمه
کبر نه مې وساتې دتورو خاورو سیال یمه

هو منم تش لاسی یم خو تا به ډک له ګلو کړم
ګله ! ماتې ځانګې په ما وتړه رومال یمه

زه داوښکو ځاځکې ، پرنیم ژواندو پاڼو پروت ښه یم
پښې دې پر تندي نه ږدمه ، نه دزنې خال یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تـــا ر یـــمه تــش تـــاریـــم ، په بیلتون پسې راوتی یم
تاو به دی ترغاړې مـــرغـــلرې کـــړم وصـــال یـمـه

ما دزړه خیرات کړی دی موســکه به راځـــي اخــــر
چاویل چې زه ګنې د سپیـــنې خـــولګۍ سوال یمه

جاردې چې په سپین لاس دې په تورو کاڼو وویشتم
شپــه راغله، بلـــیـــږمه ، د ســرو وینــو مشـــال یمه

صبر چــــــې «کاروان» د ښاپیرۍ ورغوی پرانیزي
کرښې کرښې پروت په کې دورکو نغمـو پال یـــمـه

۱۶ / ۷ / ۲۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

سپین د تورو ، ورور ګڼمه تور د سپینو ورور ګڼم
دواړه مې د دواړو سترګو سپین ګڼمه تور ګڼم

پام کوه ! د کفر په فتوی مې چې ونه مانځې
زه خو میخانه خدایږو سکه د جومات خور ګڼم

وایمه ګلپاڼې دي له اور نه لپه ډکه کړم
داسې شیبې هم راشي چې سره ګلونه اور ګڼم

څڼې دې که شپې دي له سبا دې سپین لاسونه ډک
نن سبا خو ژوند ایله د شنو بنګړیو شور ګڼم

وایي راته دوه جمع دوه وایه چې څو کیږي
یم شاعر سړی وایم ګلونه یې څلور ګڼم

لمر چې زرین سپر شي او د وینو رینګي وُري
شنه زرغونه هم مینا توري غوندې منګور ګڼم

خرڅه یې ښکاري برګې څرمنه په بازار کې کړه
څو د برګي پړانګ اوس د زرینې هوسۍ کور ګڼم

نن مې په رنځور و سترګو غلي ور کتلي دي
اوس خو په کاروان د نرګسي غزلې پور ګڼم

۱۹۹۸/ ۳ /۵ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

جنګ به یې وژلـې وي ، د سترګو جنګ بــه راوړي

ګورې به جنګي آسان ، د سـولې رنــګ بــه راوړي

شنه به یــې له نال ناله په شپه اور اورکــې شـــي

تیږو ، نه به شرنګ خیژي او مست اهنګ به راوړي

اوښکې دخوښۍ به ځي له سترګو څــپ څپانــدې

غیږ کې هره اوښـــکه دزړه ګــوتې زنګ به راوړي

سره سره ګلا بونه به بــا روتـــو کــې راشنــه شــي

ګل به شي ، وږمې بــه شي ، نشې دبنګ به راوړي

زړه زما زیارت بــو یـــه دمینــې د ملنــګ دی

ښکلي به رادرومي دښکلا قلــنــګ بــه راوړي

سپین دښاپیرۍ ورغـــوی پـــرانیـــزه کـــاروانه

شعر دې په خوشبو لمبوه تور لـــونــګ به راوړي

۲/۷/۲۰۰۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

پـــر ورکـــو لارو ګر ځـــومه ځوری د نغمو
کاروان لرم تر ټولـــو ښه ملـــګری د نغمـــو

آشنا په خـــروارو راوړه تارونـــه د ربـــاب
ورواچـــوه ، ورواچـــوه بخـــری د نغـــمو

خنجر د دښمن مات شو د جنګي نيلي تر نال
په شنـــه سهار به چيغې کړي تنځری د نغمو

ترې ايستې له ګوتميو ډکو ګوتو ده شرنګا
ګـــودر کې لري ننښه مات کودری د نـــغمـــو

په غيږ کې يې ځايږي نه ګيدۍ ګيدۍ غزل
په شرنګ چې لور ورواچوي لوګری د نغمـــو

بيګا څوک زمزمه په خوله پيلوځي وه په لاس
سهار پر ځانګه ناست و سور وزری د نـــغمـــو

را پا څوه له څو ، نـــه د سنـــد رو ســـمنـــد ر
کاروان په وچکالۍ کې تند غری د نـــغـــمـــو

۲۰۰۰ / ۷ / ۳۰ پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

دزاره چـــاودي نـــاتـــر سره ارمان رنګ لرې ته
ګومان حرام دی ، په ایـــمان دایمان رنګ لری ته

باران باران نظـــر خـــو ځـــکه ورومـــه پـــرتـــا
زما دغرونو ، ددرو ، دد امان رنـــــګ لـــــرې تـــه

ملا لې سترګې دې دموسکو آیـــا تـــــونو چینې
لکه بڼکه دطا ووس دقرآن رنـــــګ لـــــرې تـــــه

لکه دې زیړې زرغونې شوې رانیوای دې نـــــه شم
څـــه شوخ دلمر ، مهین دنرم باران رنګ لـــرې تـــــه

زمونږ دصبر پر کشتیو دې غـــو غـــــا راوستـــه
شین سمندر یې آشنا څه دطـــــوفان رنګ لرې ته

په پښتو ژبه چـــې خـــوږې خـــوږې خبرې کوې
تـــــپه ټپه شې دغـــــزل درُومـــان رنـــــګ لـــرې ته

دشپې له ستورو یې درواخلې تر نرګســـــه رســـې
داســـې په پټه په اوبو کې روان رنـــــګ لـــرې ته

دسهـــــار خوب یې که دنیمې شپې غـــــزل یې زمـــــا
زه ستا په رنګ رنګ یم کنه دکاروان رنګ لرې ته؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مړه شي مړه شي دتکــرار له درده توري

نه مري نه مري دخمــار لــه درده توري

ددوو سترګو دبيمار لـــه درده تـــوري

زاره چاود لکه انـــار لـــه درده تــوري

داحمد دشهيــد غـــاښ له درده ډک دی

داچې ډ يـــر دي بـــې کرار له درده توري

قلقلې کـــوي دخيـــال په شنه آسمان کې

لکه زانـــې په کـــتـــار لـــه درده تـــوري

له سلګو يې ډکوه چـــې سندريځ شــــي

تش خو مه شه د خپل يار له درده تـــوري

بيا مې خيال ته شرنګيدلي اوښان راغلل

بيا به پرې کاندي مهـــار لـــه درده تـــوري

بس خودا چې دبلـــبـــل سکنـــي ورونـــــه

ستا کاروانه سندرمـــار لــه درده تـــوري

۱۳۷۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

يو ګام کېږدي بـــل ګـــام واخلي روان په ترنم

او شپه د سپوږمۍ شپــه ده ځي کاروان په تــرنـم

ودان په ترنم دې کړ خالـــــقــــه دا جـــهــــان

چې کله یې وخت راشي کړه یې وران په ترنـــــم

کوترې خولې په خولې شه په غومبر او په ګــډا

په شغ دې ځي په غرونو کې بازان پـــــه تــــرنم

ګلونه به د سوبې وږي په غاړو کـــې امیــــــل

راځي به د جانان جنګي آسان پـــــه تـــرنـــــم

بادونه دي چې ځاځکي سره ولــــــي یو پربل

را وُري دې راوُري دې باران پــــــه تـــرنـم

غونډۍ په ګلو پټې دي درې درې دي غــــــر

ګلپاڼې په پنجو کې وړي مرغان په ترنـــــم

د مینې په لمانځه کې به جانان شي راحضـور

د بر کلي بــــــلا ل کـــــوي اذان په تـــرنـــم

راوړي به ښـــــا پیـــــرۍ درتــه ګلونه دالهام

بس بار به دې کاروانه وي او ښــــان پــه تـرنم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

مه درومه یوازې پر دې لاره غـــر خـــی بـــو دی
ها غلته دلارې تر څنګ پړانګ نیولـی څـــو دی

دالشـــې لشـــې بـاڼـــه دې بـلـې خـو اته یو سه
دلته په دې کلي کې دشنـــو غنـــمـــو لـــو دی

برید کا پرتا ، لاس کې دې موږک دکمپیو تر دی
څګ غوږونه ګر ځوه دبرګـــې پیشـــو میـــو دی

دادژوندانه لوبه ګڼـې اوکـــه یـــې بـایـلـــې
ګوره لیونې میـــن دښـــکلیـــو پـــر پـلو دی

یو به دې سم وایي به سپوږمۍ اخیستې اور دی
شپه شوه سور کی آس مې ودرولې پر کندو دی

ګوړې اوشکـــرې دې سنـــدرو تـــه ورکـــړې
ښکارې چې کاروانه دهندو دوکان دې ګرو دی

۲۰۰ / ۱ / ۳ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

نه مې ساقي لیدلی نــــه مــې ترینــه جــام اخیستـــی

ما خو د خپل صنم د ســرو ستــرګــو ســلام اخیستـــی

څه ثُرابان بادونه بیا پــه بــوړ بو کــې کــې راغـــلـــل

بیـــــده بـــهـــرامـــه بیــایــې شال د ګل مکې اخیستی

بې میني وخت پر مینـــې د اســې قـــد غـــن ولــــګاوه

مجنون سنګسار شي چې بې تش وي په خوله لام اخیستی

خدایه ګردي کانې پــه لاس را پــر تـــنـــدي یـــې ولـــم

څوک مې سهار په ولحه وړي چامې مـابـښـام اخیستـــی

هسې نه ویې نیسي ښکار د ښامار پـــاتـــې نـــه شـــي

دزړه په څرخ پســې مـــې چـــا د څـــنـــو دام اخیستـــی

خـــدای خـــودې نـــه کـــوي ، زما د شاعر زړه خو چوي

چـــې بغـــدادی کـــوتـــر وي تور کارغه له بام اخیستی

جانان خبر دی د کابـــل د دردلـــه رنـــګـــه ګلـــرنـــګ

خلک دې وایي چې غـــزل یـــې له باګـــرام اخستـــی

دا چې پرانزي نن دې خیـــال د ښـــا پیـــریـــو تـــنـــې

کاروان د ښکلي اوښ له اوښکونـــه الهـــام اخیستـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

سهاره وينښ يم بيده نه يم كه رابولې مرغۍ

هغه دخدای په غزل مستې سندر بولې مرغۍ

كاشكې چې ستاسو په انګړ كې يوه شنه ونه شم

لاندې ترې تال وي ستا ، په سركې يې را ټولې مرغۍ

دزړه پر كښت باندې ير غل راوړي فطرت دنغمو

دايې فطرت دی چې غنم خوري اويا شولې مرغۍ

په پنجرو كې چې نغمې دآزادۍ غږوي

ستا دشاعر زړګي كاروانه دي همځولې مرغۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

شعر ښیله مست اوښ دی خپل ښښتن ته نه دی رام
یو سمندر شور دی ذره نه لري ارام

ویښو له مستۍ نه کړۍ شپه یې دي خوړلي
ده د خپل ښښتن د خیال په شوري کې بادام

منډې وهی منډې د ښکلا په غرو رغو کې
کله تري په لاره پریوځي د روند بار د پیغام

ما ته یې نتې د غلامۍ پري یې مهار دی
هیڅ د اوښانه په خوښه نه اخلي یو ګام

یو ځل که د خپلې خوښې اوښې باندې چوشو
خدایږو په ډانګو نو که تري پاځوئ بدنام

ناز به باندې نه کوي خو نیاز ورسره بویه
شعر آغا باداری او شاعریې دی غلام

هیڅ یې پیدا نه کړه دی دورکې مستۍ تږی
سترګې یې ګډیږي لکه ډک د میو جام

زر شعرونه شنه شي د شاعر له یوه زړه نه
زر کوتري والوځوي یو شاهین له بام

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

ګـیـډۍ ځـنـې مـوډل او یـا قـربـان تـه واچـــوئ
وریـښـمـیـنـې لـونـګۍ ګـرد سره میدان ته واچوئ

تـرخـې خبرې پـریـږدئ کـړي خـوږې خـبـرې خـونـد
شـکـر د شـنـو طـوطـیـانـو شـکـردان تـه واچـوئ

کـه ګـل نـشـتـه، امـیـل نـشـتـه، لاسونه خو مو شته
پـه مـیـنـه کـې یـې غـاړې د جـانـان تـه واچـــوئ

ښـېـرا راتـه دعـا شـوه د یـوه ښـکـلـي کلـیـــوال
د ښـــار ښـــکـلـیـــو وې ډال د غـره کاروان واچـوئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوال

ستا په لاس کې ټولې لارې

له ماور کې ټولې لارې

دد نیا له سترګو پټه

یوه لاره ماته راکړه

چې د رګ په شان درزیږي

چې د زړه تل ته کوزیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

چــې تیر کړی دې پــرون دلــري وار دی
مستــانه راد رومــه نــن دبــري وار دی

ګورئ ټول به پښتانه ډول تــه ګــډ یــږي
مــونـــږه تیــر پــه بدرګه ددري وار دی

په چغار کې بــلبــلي دردونـــه نغـــاړه
شنه طوطا ! راغلې ســتا شــکري وار دی

خولګۍ راکړه ما لونـــګ ژوولـــي دینه
ستـــا پــه څنګ کې زمـــا دببــري وار دی

ما دخیال په قاف کې ډیرې شپې رڼې کړې
پـري واره بـــه راځـــي دپـــري وار دی

خورې رمــې بـــه دغـــزل دغـــزالانـــو
دښــکلا دداســې وږي زمـــري وار دی

کاروان څه په شرنګیدلي قـــدم راغـــی
ښایي نن یــې دنغـــمـــو دوري وار دی

۲۰۰۰ / ۳ / ۲۳ پیښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعا

ډوډۍ دې مولا کرمه لره يــخ کړي دې ډيــر شــــه

شو دې مستې تر شاتو پورې زيړ غوړي دې ډير شه

داجم ګودر په ښکليو پاک لمنو پيغلــو ډک شـــه

تورزن زلمي لښکر لښکر دبخت سړي دې ډير شه

اصيل اصيل آسونه دې ګلــې ګلـې روان شـــــه

چې ستن ترې خطا کيږي نه تو پک بوړي ډيرشــه

غنم ، جوار ، اوربشې ، لونګۍ مهينې وريــجې

باغونه ، ځنګلونه ، ګلان سره زيړي دې ډير شــه

نغري باندې دې باندې مه شــه هيڅ دغم کټـــوه

چې خنده شي مير ځمن ته دمنزل ځوړي دې ډير شه

دچم يوې نجلۍ ته «کاروان» داسې دعـــا وکــړه

پريمانې دې چمبې چمبې اوشنه بنګړي دې ډير شــه

۲۰۰۰ / ۱ / ۲۰ پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هغه له شور نه ډکې ګوتـې نرۍ نــه شتــه نه شته
چمبې چمبې که شته د چم جينکۍ نه شته نــه شتــه

شوې د بلبل د نغمو تانــدې چينــې وچــې وچــې
پرخې لمرونــو دي خــوړلي غوټۍ نه شته نه شته

د پړانګ پنجــه راوېښــوي، کبــلي دژوند له خوبه
په تور ځنګل کې هم زرينه هوســۍ نــه شته نه شته

له خيالي لاس نه مې د کب غوندې نغــمه ښــوييږي
شپې رڼوم خو د الهام ښاپيرۍ نــه شتــه نــه شتــه

د زړګي ښښه تور توپک تــه پــه ورغــوي کــې وړم
خو بيا مې هم په برخه سپينه خولګۍ نه شته نــه شته

د ښو ستنې راوړه او ښکې زمــا تــک وهــه پــرې
ګريوان مې ګوره په کې نيمــه تـنـۍ نــه شته نه شته

شو بلو نيولې د کيږديو ځــای پــه دښتــو کــې دی
تر شيرازۍ کوترو سپينــې کوچۍ نــه شتــه نه شته

ستړې او ښبه يم خوب کــې وينم دوريـښمو کاروان
سرته سرګړي کړم سرو يږدۍ شړۍ نــه شتــه نه شتــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

هغه افغان ګل یې چې ګاچین به مسلـــمـــان کـــړې
هند به مسلمان کاندې او چین به مسـلمـــان کـــړې

ستـــا خـــوږې خبـــرې کـــرامـــات لـــري شـــکرې
جار د ښمه ښکلي نـــا زنیـــن بـــه مسلمـــان کـــړي

توري برګې سترګې دې د ستـــورو ډ کـــې شپې دي
نازدې که لږ وینښ شي تور او سپین به مسلمان کړي

زرکـــې او کـــوتـــرې خـــو دهســـې هـــم مـــلګرې
بـــاز بـــه دې غـــلام شي او شاهین به مسلمان شي

تـــور کمـــر د تـــور کفـــر به ظُـــور غـــوندې رڼا کړې
شنه لمبه شـــه وچ کـــه وي را شیـــن په مسلمان کړي

ښـــه لـــه درده وژاړه چې او ښکې دې الماس شي
تـــا و تر سپینـــو غاړو لونګین به مسلمـــان کـــړې

ګورې به کاروان د مـــرید انو بـــه دې مـــل شـــي
ډیر له شعر منکر ،ملحد ، بې دین به مسلمان شي

پېښور ۱۹۹۸ / ۱۲ / ۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

وچکالي راغله او برنگه شته که نشته
مرو ، دژوند په شانې دنگه شته که نشته

چې يې لفظ و بادام زړی ، خندا نقل
هغه شوخه ، هغه شنگه شته که نه شته

باد شاهي دزړه مې بيا بې شهنشاه شوه
تاسې وگورئ ! ملنگه شته که نشته

پر تېر لاره دماتو مردکيو
کومه لاره ترلونگه شته که نه شته

چې ترسولې سپينه خوله په خندا راکړي
په ژړا سترې له جنگه شته که نشته

چې کاروان يې د سندرو ښاپيرۍ کړي
څوک تور سترگې غنم رنگه شته که نه شته

۱۹۹۸ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

بت جوړوم بت ماتوم یاره دا هنر لرم
زه د زړه په کور کې له خلیل سره آزر لرم

کله د چندڼ ونه شم کله هم ښامار شمه
شنه طوطیان که را شي بې شکر نه یم شکر لرم

د ننگو د ننگو څوکو ته جنډې جنډې د سوبې وړم
ګوښې پاتې نه یمه د سرو ګلو لښکر لرم

سپین د مړو اوبو یم خو چې سپین مخونه مینځمه
شور شمه غوغا شم ډکې لپې د ګوهر لرم

سپینه خولګۍ را سپینه کوتره سپینه سوله ده
شین د زړه شهباز په جنګ کې ژوبل او ژور لرم

سپین د ستورو مېخ مېخ مې د شپې پر تا بوت بیا وهي
سپین کفن سهار لرم، زیړې شهید دلمر لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

سـوي پـتنـگان مـې دلمـبـو دوړو ، وړي دي
پوخ په هديرو کـې مـې دبـلو شمعـو کـر لـرم
فـصـل دنـکـريزو مـې داوسپـنې ړلـۍ وهي
غـوخ دخپـل مـاشـوم ارمـان لاسونه په خنجر لرم
مـا ورته کـاروان داوښکو پرخې ، پرخې ، پرخې کړ
گل بـه شـم جانان مـې دگلـونـو پيغمبـر لـرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

منصور چې څښې څنډوهي دستار وغـــور ځـــوي
په یوه چیغه به ســـل زره کـــفـــار وغـــور ځـــوي

سیلۍ دمینې راغلې بـــړ بـــو کـــې دمینـــې هـــم
له شیخ نه به دخامو خبنتو ښـــار وغـــور ځـــوي

غـــم مـــه کـــوه ژونـــدۍ پـــه وي تپې دملالۍ
شنـــې تـــکې که آسمان پر یکه زار وغور ځوي

دا ستر انځـــور گـــر وگـــورئ کانې کوي که نه ؟
په ســـرو مـــلالو سترگو کې خمار وغور ځوي

درند تږي نظـــر پر واگـــو پـــام لـــره لـــږ ډیـــر
خولې دسپین ساقي پر سره رخسار وغورځوي

«کاروانه» غزل بوله که دې توري شول تمـام
له غاړو نه به نجونې درته هـــار وغـــورځـــوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

درې واړه پر ما ګـــران دي اول يــــار زما دکلي
چـــــنار زمـــــا دکلـــي او کوکنار زما دکلي

پـــسر يـــې لـــري ټـــوري دهُما دوزر سيوري
ټکـــرى زمــــا دکلـــــــي او دستار زما دکلي

حجرې موله جرګــــــو له مرکو نه تشې مه شه
ګودر ته جونـــــــــې درومي په کتار زما دکلي

په ډول په ګـــــډا ګانو مرور ياران پخلا کړئ
ربـــــاب زمـــــا دکـــــلي او ستار زما دکلي

ها پورې دغره سرته ځنځير خپور ګلونه خيژي
شايــــــد چې په ولجه به شي بهار زما دکلي

شپونکى زمـــا دکلي بو يه کشر اسرافيل دى
دنيا ته به مـــــحشر ځي وار په وار زمادکلي

درياب کې دسنـــــدروبه ځپې ځپې ځپې شي
ټـــپې ټـــپې ټـــپې په يکه زار زما د کلي

ترې ستورى په نيزه کې دغزل کاروانه راوړه
سپوږمۍ به خا مخـــا دربښيي لار زما کلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

خدای په کې ښکاري له هنداري جوړدي دالاسونه

لــه خپـــلو اوښکونه یـــې ډک دي ددعا لاسونه

څــــه کشمالی شمـــــال یې ستا د مستو څڼو راوړ

نرګس له شرمه پــــه اوبـــو کـــې وهي بیا لاسونه

ظالم پاچا کړی اعلان دی چې بــس تــول غوڅوي

که بیا چمبوته غځیدلي وو د چـــا لاســـونـــه

د اوبو تږی نــه یـــم بلې تــنـــدې واخیـستمه

ښکاري اوبـــو کــــې سپینې توري د لیلا لاسونه

د نښتر څڼو کې د شپـــې، زرینـــــې ږمنځې وهي

سپوږمۍ په پوره واخلي له ستـــــورو دړنا لاسونه

تش لاس به ولې یم کاروان غزل پــــــه لاس کې لرم

ما هم د چاپـــــه مخ کې ښکل دي د مـــولا لاسونه

۱۹۹۸ / ۶ / ۱۷ د نثار صیب دمه ځاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

منم په هرڅه کې احتياط منمه

خويو په مينه کې افراط منمه

ځم له مجنون سره مسلات کومه

نه د سقراط نه د بُقراط منمه

تا سره هره جامه ښه ښکارېږي

دا هنر کله د خياط منمه

کاروان که ومري سکې هم نه لري

خوږې سندرې يې په سقاط منمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

شپې چې زلفې نه شوې مخ د سپین سهار خطاکا
تور کفار خو لاره د مکې د ښار خطاکا

غشې په برم ورکړه چې ښکاري ته موسکه نه شي
تاودی له کوترې نه چې سر د مار خطاکا

شیخ که د رباب په شرنګ کې ښکلې آشنا ولید
ډیری به یې ګوتې د تسبو له تار خطاکه

خوب وینمه لمر پلې په شنو دروکې ګرځي
لال د بدخشان به له خولې شین ښامار خطاکا

ستا د رنجو او ښکې یې لفظونه د غزل دي
ستا شاعر طوطي شو شکري چغار خطاکا

لږمه شه تور سترګي دا د سپینو ورځو ستوري
ډېر شه ډېوه مخي چې له شپونه وار خطاکا

راوله کاروان ګلونه راوله سپرلیه !
پرېږده چې له مستو لاروي لار خطاکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

یــو ځو ښکلي رندان به میخانې تــه راولو
لښــکر ګلان به للمې زمانې تــه راولـــو
مــا زړه ستا د وعدو د لاسه شین راوړی دی
ستا سپینه خولګکۍ به بهــانې ته راولـــو
شپه راغله ځئ وزرې د رڼا وروا غـــونـــدو
ډیوه به وزر سـوې پروانـــې تـــه راولـــو
یادیږي مې نن بیا د نیزه بازو نجونو جنګ
د چا ملالې سترګې یارانـــې تـــه راولـــو
دیوان به راګوزار کړو د تخـت له سلېمــان
ربښتیني ښاپېرۍ به افســانـــې تـــه راولو
جنــډې د سخي جان به مې جانان ورپــوي
ســرتېــري ملنـــګان بـــه نذرانې ته راولو
چـــې پــرې کــړي د مغُـــلو د بتانو کپرۍ
پښتــون د ازر زوی بـــه بـتــخانې ته راولو
د غرونو ، د ځنګلونو دی ګډا تـــه شوی زړه
کاروان "به یوې مســتې ترانـــې تـــه راولو"

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

د بدرنګۍ له سیند اوباسو د سندرو بېړۍ
الله لاهو مه کړې د ښکلو مساپرو بېړۍ
د څو کیږدیو او یو څو دانو خورما په بدل
لاړې عربو ته د لمنځو، د نښترو بېړۍ
موږ ته رادرومي الوتکې له مارانو ډکې
له موږ نه درومي د نرګسو نیلوفرو بېړۍ
د آشنا سترګې شوې د تورو ګربتانو ځالې
زموږ لېږمې د سپینو اوښکو د کوترو بېړۍ
موږ د تیارو د جزیرو په غېږ کې ژوند تېروو
له موږ نه وړې ده رڼا د ستمګرو بېړۍ
موږ ته زخمونه د ځیګر د سترګو اوښکې پاتې
پاریس ته ځي د زمرودو د لاجورو بېړۍ
موږ د شهیدې خور ټکری کړ د جونګړې پرده
لو ټمارو بار دي د رخامو د مرمرو بېړۍ
په هر غزل کې یې رنګونه جادوګر جادوګر
کاروان ولجه کړله د خیال د جادوګرو بېړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

زمونږ د اوښکو مرغلرې ګـــونـــدې آب نـــه لري
د وخت خندا نه زده که ســوال تــه مو ځواب نه لري؟

پر ما ين ختـــلې دُرخـــو ورکه بسو ګې وديږي
د آدم لاس پـــــه جنګ کې پزې تاب د رباب نه لري

اوس مونږ په زړونو کې سجدې کوو لمونځونه لري
جومات مو ويشتی الوتکو او محراب نـــه لـــري

د جنګ چينجو يې د سرتولې پاڼې وخـــوړلـــې
په خافظه کې مو تاريخ د سولې بـــاب نـــه لـــري

پر مونږ راوُري د پـــولادو او داورلـــه اسمـــان
ګنې شينکې آسمـــان دا وسپنـــې شهـــاب نه لري

چې د نظر پرسکو ووهې تـــاپـــې د مـــوســـکا
هی دد ين پربا چهی شه هيـــڅ ضـــراب نـــه لري

د رستم زړه غواړي کاروانه شعر څه تـــوکي نـــه دي
پردې سرکشه رخش دې پام لره رکـــاب نـــه لـــري

۱۳۷۶ د لړم مياشت پيښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

غزل

وګوره اوښبه راوړی بارد ګــــلابـــــونـــــو دب

خوب وينم، بلبله وايې وارد ګــــلا بـــــونـــــو دی

غرونو ته سوما ختلي كـــلي تـــه نـــرګـــس روان

بس باچا ګلاب دی او ټول ښارد ګـــلابـــونـــو دی

تللی هغه وخت چې تار ديم يې و ترخـــانـــګو تـــاو

وايي له ژوندون سره اوس تـــــارد ګـــلابـــونو دی

راغله بلبلكه پر هنداروپـــــې وزر مـــــوښـــل

ځان به په کې ګوري پرې غبـــارد ګـــلابـــونـــو دی

خواكې يې راشين شوتر كړې يې ځانګې ځانګې تاو

داركـــــه خـــونــــړی وخونن يارد ګلابونو دی

دواړه په لانجه وو خـــــو شاعر يې شوتر منځه بريد

شپه د سپينو ستورو شـــــو د سهار د ګلابونو دی

وګورئ كاروان ته له نغمو نــــــه يې ورمې راغلې

داسړی شاعر نه دي عطارد ګـــلابـــــونـــــو دی

۲۰۰۰/ ۱۰ / ۱۵ پېښور

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library